**د پوهنې وزارت**

د تعليمي نصاب، د ښوونکو د روزنې او د ساينس د مرکز معينيت
د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د تاليف لوی رياست

# تاريخ

## اووم ټولگی

اره لري. په بازار کې يې
سر غړوونکو سره به يې



۱۳۹۰ هـ. ش

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ښوونکو د روزنې او د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف لوی ریاست

# تاریخ

## اووم ټولګی

۱۳۹۰
هجري لمریز

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مؤلفان:**

- پوهنوال محمد رسول باوری
- پوهنمل شاه صنم عمری جبارخیل
- مؤلف محمد ابراهیم حقپال
- د مؤلف مرستیال الحاج وحیدالله احمدزی
- د مؤلف مرستیال محمد حسین احمدزی

**مسلکي اډیټور:**

- پوهنوال محمد رسول باوری

**د ژبې اډیټور:**

- عبدالقیوم مشوانی

**دیني، سیاسي او فرهنګي کمېټه:**

- غلام الدین کلانتري
- دکتور محمد یوسف نیازی
- حبیب الله راحل د پوهنې وزارت سلاکار د تعلیمي نصاب د پراختیا په ریاست کې.

**د څارنې کمېټه:**

- دکتور اسدالله محقق د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ښوونکو د روزنې او د ساینس مرکز معین.
- دکتور شېرعلي ظریفي د تعلیمي نصاب د پراختیا د پروژې مسؤول.
- د سرمؤلف مرستیال عبدالظاهر ګلستاني د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف لوی رئیس.

**طرح او ډیزاین:** حمیدالله غفاري او عنایت الله غفاري

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمنِ الرَّحیم



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ملي سرود

دا وطن افغانستـــان دی — دا عزت د هـــر افـــغان دی
کور د سولې کور د تورې — هر بچی یې قهرمـــــان دی
دا وطن د ټولو کور دی — د بـــــلوڅـــو د ازبکـــو
د پښتـــون او هزاره وو — د تـــــرکمنـــو د تاجکـــو
ورسره عرب، ګوجـــر دي — پـــامیـــریان، نورستانیـــان
براهوي دي، قزلباش دي — هـــم ایمـــاق، هم پشه یان
دا هیـــواد به تل ځلیږي — لـــکـــه لمـــر پر شنه اسمان
په سینـــه کې د اسیـــا به — لـــکـــه زړه وي جـــاویدان
نوم د حق مو دی رهبـــر — وایو الله اکبر وایو الله اکبر

بسم الله الرحمن الرحيم

## د پوهنې د وزير پيغام

**ګرانو ښوونکو او زده کوونکو،**

ښوونه او روزنه د هر هېواد د پراختيا او پرمختګ بنسټ جوړوي. تعليمي نصاب د ښوونې او روزنې مهم توکی دی چې د معاصر علمي پرمختګ او ټولنې د اړتياوو له مخې رامنځته کېږي. څرګنده ده چې علمي پرمختګ او ټولنيزې اړتياوې تل د بدلون په حال کې وي. له دې امله لازمه ده چې تعليمي نصاب هم علمي او رغنده انکشاف ومومي. البته نه ښايي چې تعليمي نصاب د سياسي بدلونونو او د اشخاصو د نظريو او هيلو تابع شي.

دا کتاب چې نن ستاسو په لاس کې دی، پر همدې ارزښتونو چمتو او ترتيب شوی دی. علمي ګټورې موضوعګانې پکې زياتې شوې دي. د زده کړې په بهير کې د زده کوونکو فعال ساتل د تدريسي پلان برخه ګرځېدلې ده.

هيله من يم دا کتاب له لارښوونو او تعليمي پلان سره سم د فعالې زده کړې د ميتودونو د کارولو له لارې تدريس شي او د زده کوونکو ميندې او پلرونه هم د خپلو لوڼو او زامنو په باکيفيته ښوونه او روزنه کې پرله پسې ګډه مرسته وکړي چې د پوهنې د نظام هيلې ترسره شي او زده کوونکو او هېواد ته ښې برياوې ور په برخه کړي.

پر دې ټکي پوره باور لرم چې زموږ ګران ښوونکي د تعليمي نصاب په رغنده پلي کولو کې خپل مسؤوليت په ريښتوني توګه سرته رسوي.

د پوهنې وزارت تل زيار کاږي چې د پوهنې تعليمي نصاب د اسلام د سپېڅلي دين له بنسټونو، دوطن دوستی د پاک حس په ساتلو او علمي معيارونو سره سم د ټولنې د څرګندو اړتياوو له مخې پراختيا ومومي.

په دې ډګر کې د هېواد له ټولو علمي شخصيتونو، د ښوونې او روزنې له پوهانو او د زده کوونکو له ميندو او پلرونو څخه هيله لرم چې د خپلو نظريو او رغنده وړانديزونو له لارې زموږ له مؤلفانو سره د درسي کتابونو په لا ښه تاليف کې مرسته وکړي.

له ټولو هغو پوهانو څخه چې د دې کتاب په چمتو کولو او ترتيب کې يې مرسته کړې، له ملي او نړيوالو درنو مؤسسو او نورو دوستو هېوادونو څخه چې د نوي تعليمي نصاب په چمتو کولو او تدوين او د درسي کتابونو په چاپ او وېش کې يې مرسته کړې ده، مننه او درناوی کوم.

ومن الله التوفيق

فاروق وردګ

د افغانستان د اسلامي جمهوريت د پوهنې وزير



(c) ketabton.com: The Digital Library

# سرلیکونه

**لومړی څپرکی: د تاریخ بنسټونه،** ۱ -۱۰
- د تاریخ د علم او کټو په اړه څه پوهیږئ؟
- د مؤرخینو سرچینې څه شی دي؟
- آیا په تاریخ کې د زماني ویش په اړه معلومات لرئ؟
- آیا د سنو د ډولونو او د هغو د بدلون سره آشنايي لرئ؟

**دوهم څپرکی: د افغانستان لومړني مدنیتونه** ۱۱ -۴۰
- آیا د افغانستان د پنځه زره کلن تاریخ د پیل په اړه معلومات لرئ؟
- آیا آریائیان پیژنئ؟
- د ویدي مدنیت په اړه مو څه اوریدلي دي.
- د اوستايي مدنیت په اړه په څه پوهیږئ!
- د افغانستان اساطیري تاریخ (پیشدادیان اسپه او کیانیان) پیژنئ.
- افغانستان او پردي (هخامنشیان، موریائیان او یونانیان).
- د یونان- باختري خپلواک دولتونه.
- د یونان- باختري مهال هنري فرهنګي ځانګړنې.
- آیا د کوشانیانو د لړۍ په اړه معلومات لرئ؟
- آیا د کوشانیانو د مهمو مرکزونو په اړه معلومات لرئ؟
- بګرام.
- هډه بامیان.
- آیا یفتلیان پیژنئ؟

**دریم څپرکی: د نړۍ لرغوني مدنیتونه** ۴۱ -۵۲
- آیا د مصر د لرغوني تمدن په اړه معلومات لرئ؟
- راشئ د بین النهرین د پخواني تمدن سره آشنا شئ!
- آیا د ایران د پخواني تمدن په اړه معلومات لرئ.
- د هند د لرغوني تمدن سره آشنا شئ!
- آیا د چین د لرغوني مدنیته خبر یاست؟
- آیا پوهیږئ د یونان پخوانی تمدن څرنګه پیل شو؟
- آیا اوریدلي مو دي چې د پخواني روم امپراتورانو ته يې د اروپا واکمنان ویل؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څلورم څپرکی: د اسلام تاریخ** **۵۷- ۸۰**

- آیا پوهیږئ چې د اسلام مبارک دین دمخه د عربستان وضعه څرنګه وه؟
- د لوی څښتن (ج) د استازي حضرت محمد (ص) له ژوند سره زیات آشنا شئ.
- آیا د اسلام د مبارک دین د لومړیو غزاګانو او فتحو په اړه معلومات لرئ؟
- آیا پوهیږئ چې حضرت ابوبکر صدیق (رض) خلافت څرنګه پیل شو؟
- د حضرت عمر فاروق (رض) د خلافت په اړه څه معلومات لرئ؟
- آیا د حضرت عثمان (رض) د خلافت د دوران د پیښو په اړه معلومات لرئ؟
- د حضرت علی (کرم الله وجهه) د خلافت دوران څرنګه تیر شو؟
- آیا د امویانو د خلافت د پیل په اړه معلومات لرئ؟
- آیا پوهیږئ چې د امویانو خلافت څرنګه له منځه ولاړ؟
- آیا پوهیږئ چې د امویانو نه عباسیانو ته واک څرنګه ولیږل شو؟
- د عباسیانو خلافت څرنګه راوپرځید؟

**د اووم ټولګي د تاریخ اصطلاحات:** **۸۱- ۸۴**

# لومړی څپرکی

د تاریخ بنسټونه (مبادي)

- د تاریخ د علم او ګټو په اړه څه پوهېږئ؟
- د تاریخ لیکونکو سرچینې څه شی دی؟
- ایا د زماني وېش په اړه په تاریخ کې معلومات لرئ؟
- ایا د نېټو د بدلون او ډولونو سره اشنايي لرئ؟





(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لومړي څپرکي موخې

په دې څپرکي کې زده کوونکي د تاریخ له تعریف او ګټو سره اشنا کېږي
د تاریخ لیکوونکو سرچینې پېژني او سربېره پردې په هېواد او نړۍ کې
له معمولو نېټو سره اشنا کېږي. د تاریخي دورو ویشنه زده کوي او هم
د ځینو نېټو د بدلون په لارو چارو پوهېږي.






(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د تاریخ د علم او ګټو په اړه څه پوهېږئ؟



(تاریخ د تېر مهال هینداره او د اوس مهال لوست دی)


### د تاریخ تعریف:

**تاریخ** هغه علم دی چې تېرې شوې پېښې د مهال (زمان) او ځای (مکان) په پام کې نیولو سره بیانوي. مهال او ځای ته د تاریخي پېښو په اړه پام کول تاریخ له کیسو او نکلونو څخه بېلوي.

کومه پېښه چې په ټاکلي مهال او ځانګړي ځای کې پېښه شوې وي، تاریخي پېښه ده. د بېلګې په توګه د **بدر غزا** چې په دویم هجري قمري کال کې د مدینې په ۱۵۰ کیلومترۍ کې پېښه شوې یوه تاریخي پېښه ده. دا د تاریخ د علم دنده ده چې ددغې پېښې په اړه موږ ته معلومات راکړي.

موږ پوهېږو چې انسانانو او بشري ټولنې بېلا بېل مهالونه او پړاوونه تېر کړي دي. ډېرې لوړې ژورې لارې یې ترشا پرېښي او اوسني پړاو ته رسېدلي دي. دغه ټولې پېښې او د هغو پړاوونه چې په بېلا بېلو وختونو او بېلا بېلو سیمو کې پېښه شوې، د تاریخ لیکونکو له خوا لیکل شوې دي، دغو لیکل شوو متنونو ته تاریخ وایي.

تاریخ پوهان بشري تاریخ پر دوو دورو ویشي **تر تاریخ وړاندې دوره** (**ماقبل التاریخ**) او **تاریخي دوره**.
له تاریخ څخه وړاندې دورو **مطالعه** د انسان د پیدایښت او انساني ټولنو له لومړنیو کلتورونو څخه پېل کېږي. د مدنیت تر عام کېدلو او د لیک د منځته راتلو پورې رسیږي. تاریخی دورې د لومړنیو بشري مدنیتونو له پیدایښت څخه پېل کیږي او تر اوسه پورې دوام مومي. له تاریخ څخه وړاندې دورو کې انسانانو ډېر ساده، خو ډېر بوخت ژوند درلود، یوازې د خپل مټ په زور به یې خپلې اړتیاوې پوره کولې. په غرونو او سمڅو کې اوسېدل. د ونو او حیواناتو له پوستکو څخه به یې جامې جوړولې. د مېوو په ټولولو او د وحشي حیواناتو د ښکار کولو له لارې به یې ژوند کاوه. څنګه چې انسان اشرف المخلوقات دی، له دې امله د نورو ژوو په پرتله یې په خپل ژوند کې بدلون راوست او اوسني مدني پړاو ته ورسېد. هغه مهال چې انسانان د مدنیت پړاو ته ورسېدل، له هغه سره سم تاریخي پړاو پیل شو او تر اوسه دوام لري. تاریخ موږ له تېرو شویو پېښو څخه خبروي که زموږ په ګټه وي او یا مو پر زیان. د پر مختللو ټولنو د ودې لاملونه موږ ته راپېژني، انسانانو ته د تېر وخت په اړه معلومات ورکوي. لنډه دا چې تاریخ د تیر ژوند هینداره او د راتلونکي انسان او بشري ټولنې لپاره لارښود دی.



زده کوونکي دې همداسې انځور په خپله کتابچه کې رسم کړي او بیا دې د خپل ژوند هر کال په یوه دایره کې ولیکي.

## په ټولګي کې فعالیت:

زده کوونکي دې پر دوو ډلو وویشل شي. لومړۍ ډله دې تاریخ تعریف کړي او دویمه ډله دې د تاریخ ګټې بیان کړي.

## له ټولګي نه بهر فعالیت:

زده کوونکي دې د تاریخ د ښېګڼو په اړه له خپلو مشرانو څخه پوښتنې وکړي او لاسته راغلي معلومات دې په ټولګي کې بیان کړي.

## پوښتنې:


۱.تاریخ تعریف کړئ.
۲.تاریخ پوهان تاریخ په څو دورو وېشي؟ نومونه یې واخلئ.
۳.تاریخ موږ ته څه را زده کوي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

دویم لوست

# د تاریخ لیکونکو سرچینې څه دي؟




د افغانستان د ملي ارشيف انځور
د افغانستان ملي لرشيف په هغې ودانۍ کې ځای پر ځای شوی، چې په لومړيو مهالونو کې يې د عبدالرحمن خان سلطنتي کورنۍ پورې اړه درلوده او د هغه زوی امير حبيب الله خان په کې ژوندکاوه. دغه ودانۍ دکابل په سالنګ واټ کې شتون لري.

تاريخپوهان د تاريخ ليکلو لپاره سرچينو ته اړتيا لري. تاريخي سرچينو پر دوه ډوله دي. ليکل شوي او **خطي** اسناد او تاريخي آبدات او آثار، تحريري يا ليکل شوي اسناد په آرشيفونو کې ساتل کيږي چې د افغانستان ملي ارشيف هم دا ډول اسناد لري.

د ليکل شوو يا خطي اسنادو لوستل او له هغه نه ګټه اخيستنه ډېر ستونزمن کار دی. دغه ستونزې دوه ارخونه لري. لومړی دا چې رسم الخط د زماني په اوږدو کې بدلون مومي، بله ستونزه دا ده چې انسان د زماني په اوږدو کې له بېلا بېلو ليکونو څخه کار اخيستي چې پرې پوهېدل ګران کار دی. لکه **ميخي** ليک، هيروغليف ليک، پخوانی **يوناني** ليکنه، **سانسکريټ** ليک او داسې نور. پخواني اثار هم هغه سرچينې دي چې تاريخ پوهان يې



دکابل په دارالامان کې د افغانستان د ملي موزيم ودانۍ
د افغانستان د ملي موزيم بنسټ په ۱۲۹۸ لمريز کال کې کېښودل شو.



(c) ketabton.com: The Digital Library

د تاریخ لیکلو لپاره کاروي دا ډول اثار په موزیمونو کې ساتل کیږي. لکه څنګه چې د **افغانستان** په **ملي موزیم** کې په دې ډول ډېر تاریخي اثار شتون لري.

په تاریخ لیکلو کې د لرغونو او تاریخي اثارو څخه ګټه اخیستل د خطي اسنادو په پرتله ګران کار دی. د لرغونو او تاریخي اثارو د بیانولو او تشریح کولو لپاره باید د لرغون پیژندنې علم زموږ مرستندوی وي.



د کابل بالاحصار پنځمه زېږدیزه پېړۍ

## په ټولګي کې فعالیت:

زده کوونکي دې پر دوو ډلو وویشل شي. لومړۍ ډله دې لیکل شوې سرچینې او دویمه ډله دې تاریخي اثار په ټولګي کې بیان کړي.

## پوښتنې

۱. تاریخ پوهان کومې سرچینې د تاریخ لیکلو لپاره کاروي؟
۲. له خطي اسنادو څخه ګټه اخیستل په تاریخ لیکلو کې کومې ستونزې را منځته کوي؟
۳. د ارشیف او موزیم ترمنځ توپیر و وایئ.


## له ټولګي نه بهر فعالیت:

که چېرې د زده کوونکو د اوسېدو په سیمه کې تاریخي ودانۍ وي د هغه په اړه دې معلومات ولیکي او خپلو ټولګیوالو ته دې وړاندې کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## ایا په تاریخ کې د زماني د وېش په اړه معلومات لرئ؟




په لومړني لوست کې مو ولوستل چې تاریخ لیکونکي انساني ژوند پر دوو لویو دورو ویشي. تر تاریخ وړاندې دوره او تاریخي دوره. تر تاریخ وړاندې دوره د انسان او بشري ټولنو له پیدایښت څخه پیل شوې او د لومړنیو مدنیتونو او په ځانګړې توګه، د لیک او کتابت د منځته راتلو پورې رسیږي. تاریخي دوره د لیک او کتابت څخه پیل او تر اوسه دوام لري.

په زرګونو کلونه د انسان له ژوندانه څخه د ځمکې پر مخ تېر شول، چې انسان او بشري ټولنې د لیک او کتابت او لومړنیو مدنیتونو پورې ورسېدل. د انسان دغه اوږد عمر او هغه انساني ټولنه پېژندګلوی ته اړتیا لري. لرغونپوهان کولای شي چې د ژوندانه د دغه اوږد پېر (دور) په روښانه کولو کې له موږ سره مرسته وکړي.

پوهانو دغه اوږد پېر په نورو زمانو باندې ویشلی دی. د انسان ډېر پخواني عصر ته د **ډبرې زمانه** یا **سټون ایج** Stone Age وایي. په دې اوږده مهال کې چې زرګونه کلونه نیسي انسانانو به له ډبرو څخه له جوړ شوو توکو کار اخیسته او په سمڅو کې به یې ژوند کاوه. د حیواناتو له پوستکو څخه به یې خپل ځانته جامې جوړولې. د میوو په ټولولو او ښکار باندې بوخت وو.

دویم عصر د مفرغ یا **برونز ایج** (Bronze Age) په نوم یاد شوی دی. د لومړي ځل لپاره

انسانانو د خپل ژوندانه د چارو د پر مخ وړلو لپاره له فلز څخه کار واخیست. برونز او فلز د مس او قلعي یو ترکیب دی. د هغه مهال انساني ډلو د حیواناتو د روزلو په څنګ کې د نباتانو د کرلو، د نیالګیو دکښېنولو او د میوه لرونکو ونو له روزلو سره اشنایي درلوده. د مېشت دایمي ځایونه به یې جوړول. د صنعت دندې هم خپل ارزښت درلود.

دریم عصر د **اوسپنې د عصر** (Iron Age) په نوم یادېږي. له اوسپنې څخه ګټه اخیستل انساني ډلې د مدنیت عصر ته رسوي. له اوسپنیزو وسایلو څخه کار اخیستنې بېلا بېل ځایونه درلودل. د کار وسایل، زینتي الات او تفریحي او ذوقي شیان به یې له اوسپنې څخه جوړول. انساني ډلو د څارویو د ساتلو سربېره کرنې، بڼوالۍ او د صنعت حرفې ته به یې هم د یوازینۍ دندې په توګه ارزښت ورکاوه. د مالونو بدلولو سوداګري یې د یوې ځانګړې دندې په توګه ومنله چې یوه ډله خلک پردې دندې بوخت وو. تاریخپوهانو د لرغون پېژندونکو په څېر تاریخي دورې د **لومړنۍ پېړۍ**، **منځنۍ پېړۍ**، **نوې پېړۍ** او **معاصرې پېړۍ** په نومونو پېژندلې دي.

**لومړنۍ پېړۍ**: دغه دوره د لیک او کتابت له منځته راتلو څخه چې درې زره کاله پخوا تر میلاد زمانه ده، پیلیږي او بیا تر پنځمې زېږدیزې پیړۍ پورې رسیږي.

**منځنۍ پېړۍ**: له پنځمې زېږدیزې پېړۍ څخه پېل کیږي او تر پنځلسمې زېږدیزې پېړۍ پورې دوام مومي.

**نوې پېړۍ**: له پنځلسمې زېږدیزې پیړۍ څخه پېل او تر اتلسمې زېږدیزې پېړۍ پورې رسیږي.

**معاصرې پېړۍ**: له اتلسمې پېړۍ (د فرانسې له لوی انقلاب) څخه پیل شوې او تر اوسه دوام لري.

دیا دولو وړ ده چې دا د تاریخي زمانو د وېش یوه بېلګه ده چې د تاریخپوهانو له خوا کارول کیږي. په دغه وېش کې په زیاته پیمانه اروپایي پېښې په پام کې نیول شوي دي.

## په ټولګي کې فعالیت:

زده کوونکي دې پر دو و ډلو و وېشل شي. لومړۍ ډله دې تر تاریخ وړاندې د درې ګونو زمانو نومونه واخلي او دویمه ډله دې د نوموړې زمانې ځانګړتیاوې په ټولګي کې روښانه کړي.

## پوښتنې:

۱. د ډبرې په دوره کې انسانانو د کار وسایل له کومو توکو څخه جوړول؟
۲. فلز یا برونز څه شی دی؟ شرح یې کړئ.
۳. د اوسپنې د زمانې انسانانو کومې دندې درلودې؟ شرح یې کړئ.
۴. د تاریخي دورو د وېش یوه بېلګه و وایئ.

## له ټولګي نه بهر فعالیت:

زده کوونکي دې په خپلو کورونو کې د ډبرینو، برونزي او اوسپنیزو وسایلو نومونه ولیکي او په ټولګي کې دې و وایي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# په تاریخ کې د نېټو بدلون



نېټې او کلیزې د وخت او د وخت د وېش د پېژندلو غوره لاره ده.

په افغانستان کې درې ډوله نېټې او کلیزې معمول دي، چې د **سپوږمیز** (قمري)، **لمریز** (شمسي) او **زیږدیز** (میلادي) په نومونو يادې شوې دي.

د لمریزې او سپوږمیزې کلیزې پیل د **حضرت محمد** (ص) د هجرت د لومړي کال څخه پیلېږي او زیږدیزې کال د **حضرت عیسی** (ع) له زیږېدو څخه پیلېږي. په رسمي، دولتي او اداري چارو کې د هجري لمریزې کلیزې څخه کار اخیستل کیږي. ځینو مهمو مذهبي ورځو کې لکه د **روژې میاشت، لوی اختر، کوچني اختر** او داسې نورو کې له هجري سپوږمیز سنې څخه کار اخیستل کېږي. هجري لمریز کلیزه ۱۲ میاشتې ده چې په ټول ۳۶۵ ورځې کېږي. هجري سپوږمیز کال هم (۱۲) میاشتې ده مګر د ورځو شمېر یې ۳۵۴ ته رسیږي. همدا د ورځو توپیر د دغو کلیزو په منځ کې د نېټو د توپیر سبب شوی دی.

که وغواړو چې هجري شمسي نېټه په زیږدیزه نېټه واړوو، ساده لاره یې دا ده چې ۶۲۱ شمېره جمع یا تفریق کړو. په دې ډول که د **محمود** د زیږېدو کال ۱۹۶۶زیږدیز وي او وغواړو چې دغه تاریخ په هجري شمسي بدل کړو، نو د ۶۲۱ شمېره له ۱۹۶۶ شمېرې څخه تفریقوو چې حاصل تفریق یې د محمود د



(c) ketabton.com: The Digital Library

زېږېدو کال په هجري شمسي نېټه کېږي. او که چيرې د زلمي د زېږېدو کال ۱۳۵۵ هجري شمسي وي او موږ وغواړو چې دا شمسي نېټه په ميلادي کال واړوو نو د ۱۳۵۵ شمېره د ۶۲۱ شمېرې سره جمع کوو ترڅو د جمعې حاصل د زلمي د زېږېدو کال په ميلادي نېټه وښايي.

لاره: د محمود د زېږېدو کال

۱۹۶۶
-۶۲۱
۱۳۴۵ هجری شمسی

لاره: د زلمي د زېږېدو کال

۱۳۵۵
+۶۲۱
۱۹۷۶ زېږديز

د هجري قمري سنو بدلون په هجري شمسي او يا د هجري شمسي سنو بدلون په هجري قمري د نورو ميتودونو له مخې کيږي چې په راتلونکو ټولګيو کې به يې ولولئ.

## په ټولګي کې فعاليت:

زده کوونکي دې پر دوو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د نېټو نومونه واخلي او دويمه ډله دې د شمسي نېټو اوښتون په ميلادي او د ميلادي نېټو اوښتون په هجري شمسي باندې په ټولګي کې اجرا کړي.

## له ټولګي څخه بهر فعاليت:

زده کوونکي دې د خپلو مشرانو څخه د جومات او د خپلې سيمې د ښوونځي د ودانۍ تاريخ وپوښتي او هغه تاريخ دې په زېږديز کال واړوي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دویم څپرکي

د افغانستان لومړني مدنیتونه
– ایا د افغانستان د پنځه زره کلن تاریخ د پیل په اړه معلومات لرئ؟
– ایا اریائیان پېژنئ؟
– د ویدي مدنیت په اړه مو څه اوریدلي دي؟
– د اوستایي مدنیت په اړه په څه پوهېږئ؟
– د افغانستان اساطیري تاریخ (پیشدادیان، اسپه او کیانیان) پېژنئ؟
– افغانستان او پردي (هخامنشیان، موریان او یونانیان).
– یونان - باختري خپلواک دولتونه.
– د یونان - باختري مهال هنري او فرهنګي ځانګړنې.
–ایا د کوشانیانو د لړۍ په اړه معلومات لرئ؟
–ایا د کوشانیانو د مهمو مرکزونو په هکله معلومات لرئ؟
بګرام
هډه
بامیان
- ایا یفتلیان پېژنئ؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د دویم څپرکي موخې:

په دغه څپرکي کې زده کوونکي د افغانستان له پنځه زره کلن تاریخ سره اشنا کیږي. سربېره پر دې د اریایي مهاجرتونو، اریایي مدنیتونو، د افغانستان له لرغوني تاریخ، افغانستان او پردي او د یونان-باختري خپلواکو دولتونو سره اشنا کیږي او د کوشانیانو د امپراتورۍ په اړه معلومات پیدا کوي. د کوشانیانو عمده سیاسي- فرهنګي مرکزونه پېژني او د کوچنیو کوشانیانو (کیداریانو او یفتلیانو) د امپراتورۍ په اړه معلومات پیدا کوي.






(c) ketabton.com: The Digital Library




## ایا د افغانستان د پنځه زره کلن تاریخ د پیل په اړه معلومات لر




په تېرو لوستونو کې تر تاریخ وړاندې او تاریخي دورو یادونه وشوه. افغانستان هم تر تاریخ وړاندې دورې لري. په بېلا بېلو بحثونو او مجلسونو کې د افغانستان له پنځه زره کلن تاریخ څخه خبرې کېږي. ایا په دې پوهېږئ چې دغه د پنځه زره کلن تاریخ خبره د کومو آثارو او سرچینو په وسیله ثابته شوې ده؟

لرغون پېژندونکو د **کندهار** په شمال لوېديځه سیمه (**منډیگک**) کې څېړنې او کیندنې کړې دي. د دغو څېړنو په پای کې دا ثابته شوې چې تر میلاده درې زره کاله مخکې د منډیگک اوسېدونکو دداسې تمدن بنسټ کېښود چې د افغاننستان هېواد د پنځه زره کلن تاریخ ثبوت دی. د کیندنو په لړکې ډېر اثار او داسې وسایل لاسته راغلي چې په دغه لرغوني سیمه کې د یوه پراخه مدنیت استازیتوب کوي. په دغه ځای کې ډېرې مجللې ودانۍ څرگندې شوې چې لوی انگړ، لوی دېوالونه، کوټې او دفاعي مورچلې یې درلودې، چې د منډیگک د واکمنانو د پلازمینې استازیتوب کوي. سربیره پر دې د خوراکي توکو په ځانگړې توگه د غنمو زېرمتونونه، بېلا بېل **خاورین لوښي، مسي او برونزي** ښکلي زینتي وسایل او **خاورینې مجسمې** هم د کیندنو په وخت کې د **فرانسوي** لرغون پوهانو په وسیله پیدا شوي دي.

د منډيګک اوسېدونکو له ګاونډيو مدنيتونو سره متقابلې اړيکې درلودې. له مونډل شوو اثارو څخه دا ښکاري چې د منډيګک خلکو په شمال کې د انو او نمازګاه تپې (**ترکمنستان**)، په لوېديځ کې د **سيالک تپې** (**ايران**) د وګړو سره او په سويل کې د **هړپه** او **موهنجودارو** (هند) له مدنيتونو سره کلتوري او اقتصادي اړيکې درلودې. د منډيګک لومړنيو اوسېدونکي ښايي تر ميلاده (۲۵۰۰) کاله پخوا دغه سيمې پرېښې وي. د منډيګک د پرېښودلو په اړه د پوهانو له خوا بېلا بېلې نظريې وړاندې شوې دي. ځينې په دې عقيده دي چې پرله پسې وچکالۍ او د **هلمند** د سيند د اوبو لږوالي يې بنسټيز لاملونه دي چې د منډيګک اوسيدونکي د هغه ځای پرېښودلو ته اړ شول.



د منډيګک څخه تر لاسه شوي مجسمې

ځينې نور بيا د منډيګک د پرېښودلو لامل جګړې بولي چې په پايله کې مخالفين برېالي شول او منډيګک د اوسيدونکو ميشت ځايونو ته يې اور ورواچاوه او هغوی يې د کور کلي پرېښودو ته اړ کړل.

## په ټولګي کې فعاليت:

زده کوونکي دې پر درو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د هغو اثارو په باره کې معلومات ورکړي چې له امله يې د افغانستان پنځه زره کلن تاريخ ثابت شوی دی. دويمه ډله دې د منډيګک د خلکو اړيکې د نورو ګاونډيو خلکو سره څرګندې کړي او دريمه ډله دې د منډيګک څخه د خلکو د وتلو لاملونه څرګند کړي او خپلو ټولګيوالو ته دې بيان کړي.

## پوښتنې:

۱- منډيګک چېرته واقع دی؟

۲- د افغانستان د پنځه زره کلن تاريخ ثبوت په کومو اثارو کې څرګند شوي دی؟

۳- له ګاونډيو خلکو سره د منډيګک د وګړو اړيکې وواياست.

## له ټولګي څخه بهر فعاليت:

زده کوونکي دې له خپلو مور او پلار څخه د افغانستان د تاريخ او لرغونتوب په باره کې پوښتنې وکړي او لاسته راغلي معلومات دې خپلو ټولګيوالو ته ووايي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## ایا اریائیان پېژنئ؟



د لرغوني بلخ (ام البلاد) د ودانیو پاتې شونې.

د **اریائیانو** راتګ دوه زره او پنځه سوه (۲۵۰۰) کاله پخوا تر ز منل شوی دی. اریایانو خپل ځانته اصیل او د ښو اخلاقو خاوندان ویلي دي. د هغوی د لومړنیو تم ځایونو په اړه لا ډېر معلومات نشته. دا څرګنده ده چې اریایان له **سیر دریا** او **امو سیند** څخه د لرغوني افغانستان **بخدي (بلخ)** ته راغلل.

اریایانو د ژوندانه په لومړني مهال کې کوچیاني او چوپاني ژوند درلود کله چې په بخدي کې میشته شول ښاري ژوند ته یې مخه کړه. اریایانو کورني نظم درلود. خپلې کورنۍ ته یې (**کولا**) ویل، له څو (کولا) څخه یو قبیله او له څو قبیلو څخه یو ټبر (قوم) جوړېده. د خپلو اوسېدو ځای ته یې (**پور**) ویلې. دغه ټول نومونه د **کهول**، **میرویس**، **بګرام** او **شیرپور** کلمو کې اوس هم معمول دي. اریایانو د خپلو اوسیدو سیمو ته (**اریانا ویجه یا اریانا ورشو**) ویل او د ورشو کلمه تر اوسه هم استعمالېږي.

اریایانو په بخدي (بلخ) کې د لومړني اریایي مدنیت بنسټ کېښود. د بلخ ښار یې جوړ کړ، لوی کورونه او جګ دېوالونه یې ودان کړل. د ښار د ساتنې لپاره یې ډېر جګ دېوالونه او برجونه جوړ کړل چې په بلخ کې لا تر اوسه هم د پخواني بخدي اثارو پاتې شونې لیدل کېږي.

اریایانو بلخ ته تر رسېدلو وړاندې کوچیاني او چوپاني ژوند درلود. دغه مطلب له هغو شواهدو او اثارو



(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه څرګندېږي چې د **سمرقند** له لرغوني سيمې (**تالي برزو**) څخه په (۱۹۳۹) زکال کې د لرغون پېژندونکو له خوا وموندل شو. په دې لرغونو اثارو کې يو هم هغه مجسمه ده چې نيمه تنه يې د انسان او نيمه تنه يې د حيوان په ډول جوړه شوې ده. پوهان په دې باور دي چې دغه مجسمه د **کيومرث پاچا** په مهال کې جوړه شوې چې د آريايانو يو ځواکمن ټولواک و. اريايانو بخدي ته تر رسېدو وروسته د څارويو د ساتلو او روزلو په څنګ کې په کرنې او بنوالۍ لاس پورې کړ. ډول ډول ګلونه يې وکرل او ميوه لرونکې ونې يې کينولې، د خوښۍ په محفلونو کې يې يو بل ته دګلانو ګېډۍ ورکولې، د نوي کال په لومړيو ورځو کې ښځو، نارينه وو، ځوانانو او زړو يو ځای د جشن محفلونه نيول، ساز و سرود او اتڼونه به يې کول. د اريايانو مشهور جشن د (**سامانه**) په نوم يادېده. په جشن کې ځوانانو اسونه ځغلول، اتڼونه به يې کول، د غشو او نيزې لوبې به يې کولې، د ساز، سرود او خوښۍ محفلونه به يې جوړول.

**د آريايانو لېږد** (**مهاجرت**)

د آريائيانو د ژوندانه او مدنيت په اړه د څلورو **ويدي** کتابونو څخه چې د ويدي په نوم يادېږي **معلومات** لاسته راغلي دي. په دغو کتابونو کې د اريايانو ادبي، کلتوري، اقتصادي، مذهبي او سياسي **معلومات** شته. اوس هم تاريخپوهان د اريايانو د ژوندانه د مختلفو اړخونو په اړه د **معلوماتو** د لاسته راوړلو لپاره له دغو څلورو کتابونو څخه چې په **سانسکريټ** ژبه ليکل شوي ګټه اخلي. د وخت په تېريدو سره د اريايانو شمېر په بخدي کې ډېر شو د لېږد او **مهاجرت** لړۍ يې پيل کړې. يو شمېر اريايي ډلې د **سليمان** د غرونو لمنو ته او د **هندوکش** سويل ته واوښتل او هلته يې واړول. وروسته د **هند** ځمکوته ورسېدل د اريايانو نورې ډلې لوېديځې خواته ولېږدېدې. هغوی لومړی پخواني **پارس** (**ايران**) او وروسته **ترکيې** او **اروپايي** هېوادونو ته ورسېدل. هغه اريايان چې په افغانستان کې پاتې شول هغوی په هېواد کې د **ويدي** او **اوستايي** مدنيتونو بنسټ کېښود.

## په ټولګي کې فعاليت:

زده کوونکي دې پر دوو ډلو وويشل شي. لومړۍ ډله دې د بلخ د اريايانو د لومړني ژوندانه په اړه او دويمه ډله دې د اريايانو د ټولنيز جوړښت په اړه خپل معلومات په ټولګي کې وړاندې کړي.

## پوښتنې:

۱. اريايانو خپل ځان په کومه معنا تعريف کړی ؟

۲. د اريايانو لومړنۍ پلازمينه (پايتخت) څه نومېده او چيرې واقع وه؟

۳. اريايانو بخدي ته تر رسېدو وړاندې چوپاني او ............................ ژوند درلود.

## له ټولګي نه بهر فعاليت:

زده کوونکي دې د خپلو مشرانو څخه د کوچياني او چوپاني ژوندانه په اړه پوښتنې وکړي او خپل معلومات دې په ټولګي کې بيان کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ويدي مدنيت په اړه مو څه اوريدلي دي؟



د اريايانو د مهاجرت يو انځور

داريايانو په باره کې مو لازم معلومات لاسته راوړل. او س د اريايانو د مدنيت سره اشناکېږو. د لرغوني افغانستان لومړی مدنيت **دويدي** په نوم ياديږي. دې مدنيت نوم له ويدي کتابونو څخه اخيستل شوی دی. دغه مدنيت(۱۸۰۰) کاله پخوا تر ميلاده پيل او تر ۱۲۰۰ کاله تر ميلاده د مخه يې دوام درلود.

ددغه مدنيت په اړه له هغو څلور و کتابونو څخه معلومات لاسته راغلي چې په ويدي کتابونو مشهور دي. داکتابونه سربېره پر دې چې بشپړ سياسي، اقتصادي او ټولنيز معلومات لري د اريايانو د هغه مهال د اخلاقو او عقيدو او د هغې زماني دکلتور په اړه هم اړين معلومات په کې شته. لکه څنګه چې د مخه مو ولوستل اريايانو ځانګړي ټولنيز نظام درلود. په اريايي ډلو کې شاهي نظام واکمن و، ټولنه په ځانګړي تدبير اداره کېدله، دکورنۍ په سر کې پلار (**پاتي**) موجود و. له څو کورنيو يو خېل يا زی جوړېده چې د هغې په راس کې **کوترا پاتي** موجود و. له څو خېلونو يا زيو څخه يو ه قبيله جوړېده چې په راس کې يې **ګراما پاتي** ځای درلود. د څو قبيلو رئيس ته يې **ويس پاتي** ويلې، څو ويس پاتي به د ټولواک له خوا چې **راجان** نوميده اداره کېدل. داريايانو د ټولنيزي او ضاع په اړه هم ويدي سرودونه روښانه معلومات لري د بيلګې په توګه د ښځي مقام ته په ويدي مدنيت کې درناوی کېده. سره د دې چې د هلک زيږيدنه يې نيکمرغي ګڼله د ويدي عصر ښځو ځانته ځانګړی ځای درلود لکه څنګه چې په **ريګويدا** کې د ډېرو ښځو اشعار د ځانګړي هنري لطافت



(c) ketabton.com: The Digital Library

او صنعت په درلودلو سره ثبت شوي دي له دغو ډلو څخه یوه شاعره ښځه **دخانم** (**گوشاه**) په نوم شهرت لري چې د هغې اشعار د ریگوید اپه لومړي جلد کې ثبت دي. بله شاعره ښځه (**لوپامودرا**) نومېږي چې د هغې اشعار هم د ریگوید ادکتاب په لومړي جلد کې راغلي دي. په ویدي مدنیت کې ځانگړی اقتصادي نظام موجود و. د ویدي مدنیت انساني ډلو د خپل ژوند اساسي اړتیاوې د چوپانۍ او کرنې له لارې پوره کولې د اریایانو شتمني د حیوانانو لکه پسونو، وزو، غویانو او داسې نورو د شمېر له مخې اندازه کېده.

اریایان د کرنې او چوپانۍ په څنگ کې په سوداگرۍ هم بوخت و و. د تبادلې واحد او تجارتي متاع یې غواگانې وې چې هغه ته یې (**پیسو**) ویل د اوسنۍ پیسې کلمې نوم چې پولي واحد دی د آریایي دورې د ویدي عصر پیسو ته رسېږي. د ویدي مدنیت پر مهال به وگړو ټوکران او بدل د حیوانانو له وړیو څخه به یې ډول ډول جامې گنډلې، او سپنیز وسایل به یې جوړول، له او سپنې څخه به یې د ظریفو زینتي وسایلو سربېره د تولیدي چارو لپاره به یې هم ډېر کلک وسایل جوړول. د ډول، ډول خاورینو او لرگیو لوښو جوړولو رواج درلود. د ښځو لپاره ځانگړي لوښي موجود و و، د ویدي مدنیت پر مهال ټولو کسبگرو لکه کلالانو، پښگرانو، نجارانو او نورو په ډېر قدر او حرمت سره ژوند کاوه. په ویدي زمانه کې انسانانو په مختلفو خدایانو عقیده درلوده. له هغو څخه یو هم (**اوشاس**) و و چې د خلکو په باور هغه یوه ښځه وه او د سپیده دم یا د سهار خدای په نامه یادېدله. سره له دې چې د ډېرو خدایانو عبادت به یې کاوه مگر بیا یې هم په یوه ځانگړي او واحد خدای باندې خاصه عقیده درلوده لکه څنگه چې په ریگوید اکې داسې راغلي دي. (په هر ثابت او هر حرکت کوونکي او هم هر څه چې پر لارې ځي او هر هغه څه چې مري پر دغو ټولو شیانو باندې یوازې یو خدای واکمني لري).

## په ټولگي کې فعالیت:

زده کوونکي دې پر درو ډلو وویشل شي. لومړۍ ډله دې د ویدي مدنیت د سیاسي اوضاع په اړه، دویمه ډله دې د اقتصادي وضعې په اړه او دریمه ډله دې د ویدي دورې د اعتقاداتو په اړه خپل معلومات ولیکي او په ټولگي کې دې بیان کړي.

## پوښتنې:

۱. لومړني مدنیت په افغانستان کې په کوم نوم یادیده په لنډ ډول یې و وایئ؟
۲. ښځو د ویدي مدنیت پر مهال څه ډول مقام درلود شرح یې کړئ؟
۳. د ویدي وگړو د عقایدو په اړه په څه پوهیږئ خپل معلومات څرگند کړئ؟

## له ټولگي نه بهر فعالیت:

زده کوونکي دې د اسلام مبارک دین نه دمخه خلکو د عقیدو په اړه پوښتنې وکړي او خپل معلومات دې ټولگیوالو ته بیان کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

اتم لوست

## د اوستايي مدنيت په اړه څه پوهيږئ؟



زردشت ( سپين تمان )

**او ستايي** مدنيت د افغانستان په تاريخ کې دويم مدنيت دی. ددې مدنيت نوم د **اوستا** د کتاب څخه اخيستل شوی چې د **زردشتيانو** لپاره سپيڅلی دی. اوستا د قانون بنياد او دستور په توګه معنا شوې ده. دغه مدنيت د ز څخه دمخه د (۱۲۰۰) کالو پر شاوخوا کې پيل شوی او تر ز دمخه ۷۰۰ کالو پورې يې دوام کړی. د اوستايي مدنيت بنسټ په **بخدي** کې کېښودل شو. په دغه اړه د اوستا په کتاب کې داسې راغلي دي، "**يما د اهو رامزدا** په امر يوه سيمه جوړه کړه" چې د هغه پلن والي او اوږدوالي د يو **اسپرس** (د اس ځغلولو د يو ميدان) په اندازه و چې په هغه کې ځيني حيوانات لکه پسونه، غويان، مرغان او ځيني ځناور لکه سپي او داسې نور يې ساتل او د اوبو ځای يې د يوې **هاني** (ميل) په اوږدوالي وکېنده او په دغه سيمه کې يې ښارونه، کوڅې او خونې جوړې کړې. مګر دروغجنو، ليونيو او عليلو خلکو ته يې په ښار کې ځای ور نکړ.

زردشت چې د **سپينتمان** په نوم هم ياديده د زردشتيانو مشر لاربنود، د اوستا پنځوونکي او د اوستايي مدنيت محرک و. نوموړي خپل جدي نصيحتونه په سرودونو کې ويل. زردشت د سالم ژوند لپاره پر دريو اصلونو باندې ټينګار کاوه. چې **ښه فکر کول، ښه ويل** او **ښه کار کول** دي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

د زردشت د شخصیت او ژوندانه په هلکه د اوستا په کتاب کې ډېرې څرګندونې شته. داسې ویل کېږي چې نوموړي د پخواني بلخ (بخدي) د ښار په شاوخوا کې ژوند کاوه.

زردشت د هغې سیمې په یوې نجیبې کورنۍ پورې اړه درلوده. د همدغو سوابقو په درلودلو سره نوموړي د فکري اصلاحاتو لاربښوونه پیل کړه. پر همدې مهال یې د یوې نوې تګلارې پر بنسټ د یوشمېر وزیرانو او واکمنانو سره د خیښۍ اړیکې جوړې او هغه یې وپاللې.

ځینې مؤرخین زردشت د **اسپه** له مشهورې کورنۍ څخه ګڼي. د زردشت د کورنۍ په اکثرو نومونو کې د اسپه کلمه په وار وار سره راغلې ده. د زردشت پلار **پور اسپه** او نیکه یې **میچت اسپه** نومیده. چې د وروستي نوم معنا یې د قوي اسونو د څښتن ده. د اوستا کتاب د زردشت له خوا وړاندې شوی دی. دغه کتاب په حقیقت کې د زردشتي آیین د پیروانو لپاره د لارښوونې اصول دي. اوستا د پخوانیو کتابونو له جملې څخه شمېرل کېږي. په اغلب ګومان سره دغه کتاب د ۱۲۰۰ تر ۶۰۰ کاله پخوا تر میلاده پېښې په برکې نیسي.

په اوستایي مدنیت کې درې ګونې ټولنیزې طبقې (**روحانیون**، **نظامیون او بزګران**) موجود وو. خلکو کلیوالي ژوند درلود، بزګري او بڼوالي د دوی اصلي دنده وه. ددې تر څنګ دوی په مالدارۍ هم بوخت وو. برونزي او اوسپنیز شیان به یې کارول. برسېره پر دې په اوستا کې د سیاسي کورنیو او واکمنانو په اړه هم څرګندونې شوې دي. په اوستا کې له هغو نومونو یادونه شوې چې د افغانستان په اساطیري تاریخ کې لوړ ځای لري. لکه **اسپه**، **کیانیان** او **پیشدادیان** چې په راتلونکو درسونو کې به یې په تفصیل سره ولولو.

## په ټولګي کې فعالیت:

زده کوونکي دې پر دوو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د اوستا په اړه او دویمه ډله دې د زردشت او د هغه د نصیحتونو په باره کې خپل معلومات ټولګیوالو ته ووایي.

## پوښتنې:

۱. د اوستایي مدنیت او د هغه د معنا په اړه څه پوهېږئ؟ ویې لیکئ.
۲. زردشت څوک و؟ په اړه یې خپل معلومات ولیکئ.
۳. اوستا پر څو برخو ویشل شوې ده؟

## له ټولګي څخه بهر فعالیت:

زده کوونکي له نیک فکر کولو، نیک ویل او نیک کار کول څخه څه معنا اخلي، له د خپلو دوستانو او خپلوانو څخه دې پوښتنې وکړي او خپل معلومات دې ټولګیوالو ته بیان کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

نهم لوست

# د افغانستان اساطيري (لرغونی) تاريخ



رستم د شهنامې مشهور پهلوان

**د افغانستان په اساطيري تاريخ کې درې مهمې کورنۍ معرفي شوې چې عبارت دي له:**

**الف- پيشداديان**: **هوشنگ** لومړنی اوستايي پهلوان دی چې له دېوانو سره جنگېده او پر هغوی يې واکمني درلوده. هوشنگ د **کيومرث** له اولادې څخه و چې د پيشداديانو لړۍ دده له نسل څخه ده. هوشنگ د بخدي ښار د لومړني قانون جوړونکي په توگه پېژندل شوی دی. تر هوشنگ وروسته **تهمورث** واک ته ورسېد چې د اوو هېوادونو د تولواک په نوم پېژندل شوی و. له تهمورث وروسته واک **جمشيد** (**يما**) ته ورسېد چې د افغانستان په اساطيري تاريخ کې زړه وړونکي حماسې او عشقي کيسې لري. د هغه مهال مشهورې کيسې زباتې دي چې د بېلگې په توگه د **رستم** او **سهراب** او **د کاوه اهنگر** د کيسو يادونه کولای شو. د کاوه اهنگر کيسه د داسې پېښو او واقعاتو پر بنسټ جوړه شوې چې يو کس د کاوه اهنگر په نوم د خپلې پښگرۍ خرمنه د بيرغ په ډول د نيزې پر سر وتړله او **خلک** يې را ټول کړل چې د **ضحاک** او د هغه د ظلم او ستم پر ضد پاڅون وکړي چې په پای کې ضحاک له منځه لاړ او کاوه اهنگر بريالی شو.

**ب- کيانيان**: کيانيان د افغانستان د اساطيري لړۍ يوه بله کورنۍ ده چې په پخواني بلخ کې يې واکمني درلوده. دغې کورنۍ ته يې په **شاهنامه** کې کياني ويلې ده، د اوستا په ليکنه کې ددې کورنۍ لومړنی



(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولواک د **کيقباد** په نوم ياد شوی چې د رستم پهلوان په غوښتنه په بلخ کې پر تخت کيناست او پنځلس کاله يې واکمني وکړه. وروسته تر ده، دده زوی **کيکاوس** پرتخت کيناست چې د پرديو سره وجنګېد او پر هغوی بريالی شو. داسې ويل کېږي چې کيکاوس د (**اوسنر**) په نوم يو **عاقل**، هوښيار او پوه وزير درلود تر کيکاوس وروسته **سياوش** واک ته ورسېد. سياوش ددې کورنۍ ډېر ځواکمن ټولواک و. دغه واکمن د **تورانيانو** سره په مخامخ جګړه کې له منځه ولاړ. تر ده وروسته **کيخسرو** واک ته ورسېد. نوموړي د پلار د وينې د غچ اخيستلو لپاره د تورانيانو سره وجنګېد. په پای کې **توراني افراسياب** او دهغه وروريې په زنځير وتړل او وې وژل.

**ج- اسپه**: له کياني کورنۍ وروسته د افغانستان په اساطيري تاريخ کې بله لړۍ منځ ته راغله چې د اسپه کورنۍ په نوم يې شهرت وموند. لکه څنګه چې ددغې کورنۍ د هر ټولواک د نوم په پای کې د اسپه کلمه راغلې ده ځکه په تاريخي متنونو کې د اسپه د کورنۍ په نوم مشهور دي. ددغې کورنۍ لومړنی ټولواک **لهراسپ** نومېده. لهراسپ خپل مرکز له بخدي ښخه د بلخ نوبهار ته راوست. **هغه** هم د تورانيانو په وسيله ووژل شو. نوموړي باهمته عادل او د لوړ شخصيت خاوند او د زردشت د تګلارې پيرو و.

داسې ويل کيږي چې زردشت د خپل کتاب (۱۲۰۰۰) نسخې ليکلې وې چې **د وهران** په اورتون کې ساتل کيدې. دغه معبد د ګشتاسپ له خوا په بلخ کې ودان شوی وو.

له ګشتاسپ ښخه وروسته ددغې لړۍ نور پاچاهان هم واک ته ورسېدل. د بېلګې په توګه **اسفنديار**، **داراب د همای زوی** او د داسې نورو نومونه يادولای شو. په لنډ ډول د **افغانستان** اساطيري تاريخ پر دريو سرچينو (منابعو) ولاړ دی چې هغه **اوستايي متون**، **د فردوسي شاهنامه** او **شفاهي کيسې** دي چې تر اوسه د افغانستان د وګړو ترمنځ سينه په سينه يو او بل ته لېږدول کېږي او لا تر اوسه په **مختلفو** ډولونو پاتې شوې دي.

## په ټولګي کې فعاليت:

زده کوونکي دې پر درو ډلو وويشل شي. لومړۍ ډله دې د افغانستان د اساطيري تاريخ د کورنيو نومونه واخلي، دويمه ډله دې ددې کورنۍ د دريو نامتو شخصيتونو نومونه واخلي او دريمه ډله دې د افغانستان د اساطيري تاريخ پر ځانګړو سرچينو باندې خبرې وکړي.

## پوښتنې:

۱. د افغانستان په اساطيري تاريخ کې کومې کورنۍ شاملې دي؟
۲. لومړۍ کورنۍ د افغانستان په اساطيري تاريخ کې په کوم نوم ياده شوې ده؟
۳. د افغانستان د اساطيري تاريخ درې سرچينې کومې دي. نومونه يې واخلئ؟

## له ټولګي ښخه بهر فعاليت:

زده کوونکي دې د خپلو مشرانو ښخه د تاريخي کيسو په اړه پوښتنې وکړي او خپل معلومات دې ټولګيوالو ته وړاندې کړي.




(c) ketabton.com: The Digital Library


(c) ketabton.com: The Digital Library



## لرغوني افغانستان او د پرديو واکمني (هخامنشيان، يونانيان او موريايان)



داريوش او خشايارشا



مقدوني سکندر




چندرا گوپتا

د زېږديز نه دمخه په شپږمه زېږديزه پېړۍ کې د لرغوني افغانستان په محدوده کې واحده سياسي واکمني نه وه. په هر گوټ کې محلي حکومتونو او خپلواکو سياسي واکمنيو حاکميت درلود. همدا مهال د افغانستان په لوېديځ کې د يوې نوې امپراتورۍ بنسټ کېښودل شو، چې د **پارس** په تاريخ کې د **هخامنشيانو** په نوم ياده شوې ده. ددې امپراتورۍ بنسټ د **مادانو** د کورنۍ وروستني لمسي **کوروش** د ز نه دمخه په **۵۵۰** کال کې کېښود.

**هخامنشيان:**

د کوروش تر قوماندې لاندې لښکرو د ز نه د مخه په **۵۴۹** کال کې د افغانستان ځينې شمالي سيمې تر لنډې مودې پورې تر خپلې واکمنۍ لاندې راوستې وې. تر کوروش وروسته دده زوی **کمبوجيه** واک ته ورسېد، هغه د لرغوني پارس لوېديځو پولو ته زيات پام وکړ. د **مصري فرعون** سره يې جگړې وکړې او هغوی ته يې ماته ورکړه او د هغه سيمې يې خپلې کړې. نوموړی پارس ته د بېرته تگ پرمهال پر لار مړ شو.

د هخامنشيانو زيات شمېر پاچاهان واک ته ورسېدل خو نامتو واکمنان يې **لومړی داريوش، خشايار شاه، دويم داريوش** او **دويم اردشير** وو. د هخامنشيانو امپراتوري د ز نه دمخه په ۳۳۱ کال کې د مقدوني سکندر له لورې له منځه ولاړه.

**يونانيان:**

مقدوني سکندر د هخامنشيانو امپراتوري له منځه يووړه او بې له ځنډه يې د ميلاد نه د مخه په (۳۳۰) کال کې پر لرغوني افغانستان يرغل وکړ. سکندر د افغانستان د نيولو لپاره د **هرات، کندهار، کابل** او د **پغمان** له لارې د **ققفاز سکندريې** (**بگرام**) ته ولاړ او وروسته د افغانستان شمالي سيمو ته ورسيد او هلته يې د **ای خانم** د ښار بنسټ کېښود. د شمالي سيمو له تصفيې **څخه** وروسته ختيځې خواته ولاړ. د **نورستان** او **کونړ** له لارې **چترال** ته ورسيد. سکندر د **يوسفزيو** سره په يوه جگړه کې په پښه ټپي شو. د سکندر لښکر پوره پنځه کاله د افغانستان په مختلفو سيمو کې وجنګېده.

سکندر، يونان ته د بيرته تللو پرمهال **د سند سيند** له لارې د مقدونيې پر لور وخوځېد. د لارې په اوږدو کې د ملاريا په مرض اخته او تر ميلاده ۳۲۳ کاله پخوا مړ شو. له سکندر څخه وروسته دغه لويه يوناني امپراتوري د يونان د پوځي مشراتو تر منځ وويشل شوه.

**موريايان**

د سکندر تر مړينې وروسته د **هند** موريايانو د لرغوني افغانستان د سهيلي سيمو يوه برخه لاسته راوړه چې په يوناني امپراتورۍ کې يې گډوډي رامنځته کړه. د **يونان-باختري** دورې په ترڅ کې دا سيمې د موريايانو او يوناني باختريانو تر منځ لاس په لاس شوې.

**په ټولگي کې فعاليت:**

زده کوونکي دې پر درو ډلو وويشل شي. لومړۍ ډله دې د هخامنشيانو په اړه، دويمه ډله دې د يونانيانو په باره کې او دريمه ډله دې د هندي موريايانو په اړه خبرې وکړي.

**پوښتنې:**

۱. د هخامنشيانو په اړه څه پوهېږئ؟ بيان يې کړئ.
۲. يونانيان څه ډول د افغانستان خاورې ته راورسېدل او د سکندر مقدوني تګلاره وښايئ.
۳. د هند د موريايانو په باره کې په څه پوهېږئ؟ ويې ليکئ

**له ټولگي نه بهر فعاليت:**

زده کوونکي دې د خپلو کورنيو له مشرانو څخه د هخامنشيانو، يونانيانو او موريائيانو د کيسو په اړه که پوهېږي پوښتنې وکړي او خپل معلومات دې د خپلو کورنيو غړو ته بيان کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د یونان- باختری خپلواک دولتونه



یوناني مسکوکات

دمخه مو ولوستل چې دسکندرتر واکمنۍ لاندې سیمې دیوناني قوماندانانو ترمنځ وویشل شوې. یوناني **سلوکیدیانو** د سکندر د امپراتورۍ یوه برخه هم په اختیار کې درلوده. هغوی **شام** او په هغه پورې ترلې سیمې اداره کولې. سلوکیدیانو یو تن یوناني افسر د لومړي دیو دیتس په نوم د باختر د والي په توګه وګوماره. نوموړي کله چې باختر ته ورسېد، د باختر او **سغدیانه** خپلواکي یې اعلان کړه. د **دیو دیتس** د واکمنۍ پېر د ۲۴۵ - ۲۳۰ کاله پخوا تر میلاده پورې رسېږي. تر هغه وروسته دویم دیو دیتس د باختر کنټرول او اداره په لاس کې ونیوله. نوموړي د خپل دولت خپلواکي اعلان کړه د **اشکانیانو** سره یې د دوستۍ اړیکې ټینګې کړې، څکه دواړه نوي دولتونه د شام (سوریه) د سلوکیدیانو پر خلاف وو. **ایوتیدیوم** د یونان باختري دولت یو ډېر ځواکمن تولواک و، چې د خپلې واکمنۍ په پېر کې یې د شامي **سلوکیدیانو** یرغل پر شا وتنباوه او بیایې د سولې له لارې هغوی په شاکړل. نوموړي د **هندوکش** سوېلي برخې یې له کومې جګړې څخه د **هندي** دولت له سلطې وژغورلې او په لوېدیځو برخو کې د **توس** تر سیمو پورې مخ ته ولاړ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

په شمال کې **کاشغرستان** او په سوېل کې یې **بلوچستان** د لرغوني افغانستان سره یو ځای کړل. په همدغه دوره کې باختر د **زرو ښارونو** (**هزار شهر**) نوم تر لاسه کړ. د یونان باختري بل تولواک **ډیمیتروس** نومېده. نوموړي تر **سند** او **پنجاب** پورې مخې ته ولاړ او شمالي هندوستان یې د **ګنګا** تر ځنډو پورې ونیو. دیونان باختري پولې د ایران له ډېښتو څخه (د اوسني ایران مرکزي سیمې) دګنګا تر سیمو او بیا له **سیحون** او **جیحون** څخه د **هند** تر **بحیرې** پورې رسېدلې وې. دیونان باختري تولواکانو فتوحاتو له میلاد څخه دمخه د (۱۷۵) کال پورې دوام درلود.


یوناني هرپوکرات د خوښۍ الهه د بګرام له زېمو څخه

**ایوکراتید** دیونان باختري بل تولواک و. نوموړي داسې والیان پخپله امپراتورۍ کې وګومارل، چې په هند کې یې د خپلواکو دولتونو لپاره شرایط برابر کړل کله چې ایوکراتید واکمن شو. د دولت پرزیدل او دیونان باختري امپراتورۍ جوړېدل پیل شول. له یوې خوا د **اشکانیانو** یرغل د امپراتورۍ په لوېدیځ کې او له بلې خوا دننه په هیواد کې ستې قبیلو دیونان باختري د خپلواکو دولتونو د پرزیدلو زمینه برابره کړه. یونان باختري دولت ۱۳۵ کاله پخوا تر میلاده خپل مرکز له **بلخ** څخه **بګرام** ته ولېږداوه او خبره دې ته ورسېده چې ۷۰ کاله پخوا تر میلاده لومړي ساکان په سویلي افغانستان کې واک ته ورسېدل او بیا د ستې قبایلو یوې څانګې چې د (یوچي) په نوم یې شهرت درلود، بلخ ونیو او دیونان باختري دولتونو لړۍ یې را وپرزوله.

**یوچیان** چې د افغانستان په لرغوني تاریخ کې د **کوشانیانو** په نوم پېژندل شوي یوه لویه امپراتوري را منځته کړه، چې په دیارلسم لوست کې به یې ولولو.

## په ټولګي کې فعالیت:

زده کوونکي دې پر دوو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د باختري سیمو د خپلواکۍ د اعلان او دویمه ډله دې دیونان-باختري دورې د نامتو واکمنانو په اړه خپل معلومات په ټولګي کې ووايي.

## پوښتنې:

۱. د ایوتیدوم په اړه څه پوهېږئ؟ خپل معلومات ولیکئ.

۲. دیمتریوس څوک و د هغه د کړو وړو په اړه څه پوهېږئ؟

۳. دیونان باختري امپراتورۍ پرزیدل څه ډول پیل شو؟ خپل معلومات ولیکئ.

## له ټولګي نه بهر فعالیت:

هر زده کوونکي دې دیونان باختري نقشه په کور کې رسم کړي او په ټولګي کې دې نورو زده کوونکو ته وښيي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د یونان-باختري پېر هنري او فرهنگي ځانگړتیاوې



د یونان باختري پاچاهانو مسکوکات: دغه مسکوکات د افغانستان په بېلا بېلو سیمو کې د لرغون پوهانو په وسیله موندل شوي دي.

په دې کې شک نشته چې د **سکندر** د پوځي یرغل سره سم د یوناني لښکرو سره یو ځای هنرمندان، پوهان او کسبگر، نیول شوېو هیوادونو ته راغلل چې له هغې ډلې هېوادونو څخه یو هم افغانستان و. د دغو هنرمندانو نوښتونه د ختیځو سیمو په تېره بیا د لرغوني افغانستان د خلکو د کلتور سره یو ځای شول او افغاني بڼه یې خپله کړه.

د یونان-باختري واکمنیو پر مهال اقتصادي وضعې مناسب پرمختگ کړی و. مالداري، کرهڼه، دکسبگرو بېلا بېل صنعتونه او سوداگریزو اړیکو د پام وړ وده او پراختیا موندلې وه. **ایوتیدم** د سرو او سپینو زرو نه جوړې شوې سکې پر خپل نوم جوړې کړې چې د ښو او مناسبو اقتصادي شرایطو استازیتوب یې کاوه. د سوداگرۍ ملي او نړیوالې لارې یې پرانستې وې او د کاروانونو د تلو راتلو امنیت هم نیول کیده. هغه مهال د هېواد بېلا بېلې سیمې د شهزادگانو په وسیله اداره کیدې.

د یونان-باختري واکمنۍ پایښت کابو (۱۴۰) کاله و. د نوي کلتور په رامنځته کېدو او دودولو یې خپلې پراخې اغېزې وکړې. د صنایعو پراخوالی، هنري او فلسفي افکار ژبه او لیک دود او نورې کلتوري خواوې یادولای شو. دغه ټولې کلتوري اغیزې د یونان-باختري امپراتورۍ تر ولکې لاندې د سیمه ییزو عناصرو سره یوځای شوې وې او یو ځانگړی کلتور یې رامنځته کړی و چې د یونان-باختري د مدنیت په نوم په لرغوني تاریخ کې شهرت لري. د یونان-باختري دورې په یوه ډېرلیک کې چې په ای خانم کې د لرغون پوهانو لاسته راغلی و داسې لولو.



(c) ketabton.com: The Digital Library

**په ورکتوب کې ښه روزنه واخله.**
**په ځوانۍ کې په خپلو غوښتنو حاکم اوسه.**
**په پوخ عمر کې رېښتنی اوسه.**
**په زړښت کې ښه ناصح اوسه.**
**د ژوندانه په ورستيو ورځو کې به پوه شې چې څه ډول بې له ارمانه مرې.**




د يونانيانو اغېزې په عمراني چارو کې هم محسوسېدلې. پوځي او اداري مرکزونه يې په عمومي ډول د سيندونو د يو ځای کېدو په سيمو کې جوړول. د دغو ودانيو بېلګې د بګرام او ای خانم په پاتې شونو کې ليدلای شو. په ودانيو کې دفاعي لارې په پام کې نيول شوي دي. د کنټرولي برجونو، دفاعي کندې او ډول ډول بندونو جوړولو ته پام اړول شوی‌دی.

د يو شمېر تاريخ ليکونکو په باور يوناني نفوذ په افغانستان کې تر اومې ز پېړۍ پورې دوام وکړ. دغه اغېزې په تيره بيا په ليک دود او هنر کې د يادونې وړ دي. يوناني ليک دود په بېلا بېلو ځايونو کې کارول شوي دي. متن او مطلب که په هره ژبه وړاندې کېده خو له يوناني ليک دود څخه کار اخيستل کېده. په دې اړه يوه چيني زيارت کوونکي په خپلو ليکنو کې دا يادونه کړې چې يوناني ليک دود د يونان باختري د سيمو يو ليک دود دی برسېره پردې د مجسمې جوړولو هنر، رسامي، نقاشي په ښېښه يې لوښو کې د يوناني ودانيو بېلا بېل شکلونه او څېرې تر ډېرو وختونو پورې په لرغوني افغانستان کې دود درلود. لنډه دا چې کابو په ۱۴۰ کلونو کې د يونان باختري واکمنی ۳۶ تنه پاچاهانو او ددې لړۍ يوې ملکې هم په لرغوني هند او افغانستان کې واکمني کړې ده. دغو ټولو د يوناني فرهنګ او کلتور د پراختيا لپاره د هند او باختر په سيمو کې هڅې کړې دي. د لرغون پوهانو د څېړنو په ترڅ کې ډېر هنري او فرهنګي شواهد او لاسته راوړنې په افغانستان او شمالي هند کې تر لاسه شوي دي.

دغه ټول اثار او پاتې شونې د هغې دورې استازيتوب کوي او د يوناني فرهنګ شتون په دې سيمو کې څرګندوي. د يادونې وړ خبره دا ده چې يوناني فرهنګ په دې سيمو کې په سوچه ډول پاتې نه دی. ځکه د لرغوني افغانستان د فرهنګ او کلتور سره يو ځای شوي او د فرهنګ يوه نوې ښه رامنځته شوې چې د يونان باختري مدنيت په نوم ياد شوی دی.

## په ټولګي کې فعاليت:

زده کوونکي دې پر دوو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د يونان باختري د اقتصادي وضعې په اړه خپل معلومات څرګند کړي او دويمه ډله دې د يونان باختري دورې د دوو فرهنګونو په يو ځای کېدلو خبرې وکړي.

## پوښتنې:

۱. د يونان باختري دورې د اقتصادي وضعې په اړه په څه پوهېږئ؟
۲. د يوناني ودانۍ بېلګې او اغېزې په کومو سيمو کې ليدل کېږي؟ نومونه يې واخلئ.
۳. کوم ډول ليک دود په يونان باختري دوره کې دود درلود؟


## له ټولګي څخه بهر فعاليت:

زده کوونکي دې له ټولګي څخه بهر له خپلو مشرانو څخه د سکندر او يونانيانو د کيسو په اړه پوښتنې وکړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## آیا د کوشانیانو د کورنۍ په اړه معلومات لرئ؟



د رباطک ډبرلیک

د رباطک په ډبرلیک کې سربېره پر نورو مطالبو د کوشانیانو د شجرې په اړه داسې راغلي دي: کجولا کدفیسس غورنیکه، ویما تکتو نیکه او ویما کدفیسس د کنشکا پلار دی. د رباتک په ډبرلیک کې د کوشانیانو د امپراتورۍ سرحدي ښارونه هم راغلي دي. د بېلګې په توګه د کوشانیانو د امپراتورۍ سویلي ښار د چمپا په نوم یاد شوی دي.



د کنشکا مجسمه

### د کوشاني دولت رامنځته کېدل

د میلاد نه شاو خوا ۵۰ کاله مخکې کوچي قبایلو د کورنیو مخالفینو په مرسته یونان-باختري دولت له منځه یووړ. بلخ یې ونیو او د یوې نوې امپراتورۍ بنسټ یې کېښود چې بشپړه افغاني بڼه یې درلوده. د دې دورې په اړه ډېر داړمن معلومات د **رباتک** له ډبرلیک څخه لاس ته راوړلای شو. دا ډبرلیک د **کنشکا** د امپراتورۍ په لومړیو کې لیکل شوی دی. دغه ډبرلیک د




(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوشاني** امپراتورۍ په اړه ګټور معلومات لري.

**کجولا کدفیسس** دکوشانیانو د امپراتورۍ بنسټ ایښودونکی و. نوموړي په پیل کې **څلور لوی ولایتونه** د بلخ په شاوخوا کې سره یو کړل. او په ۴۰ میلادي کې یې **د کابل** او **غزني** سیمې ونیولې. کجولاکدفیسس پر لرغوني اریانا او باختر باندې ۴۰ کاله واکمن و. نوموړي په دې موده کې وکولای شول چې د لرغوني **افغانستان** په دننه کې د **پارتي** او **یوناني** شاهانو پاتې شونې له منځه یوسي. دکجولا کدفیسس د زمانې زیاتې سیکې له مسو **څخه** جوړې شوې وې. په دغو مسکوکاتو کې ډېر القاب لکه **دیندار، شهنشاه** او داسې نور کیندل شوي دي. نوموړی د اتیاکالو په عمر مړ شو. دکجولا کدفیسس نه وروسته ویما تکتو ته واک ورسید. د رباطک د لیکنې پر بنسټ **ویما تکتو** دکجولا کدفیسس زوی دی.

تر ویما تکتو وروسته د ده زوی ویما کدفیسس تر ۱۲۷ ز کال پورې واکمن و. ویما کدفیسس د کوشانیانو لومړنی ټولواک و، چې د هیواد پولو ته یې په سوېل کې دګنګا تر سیند پورې پراختیا ورکړه. ویماکدفیسس د **چین** هیواد سره دوستانه اړیکې درلودې. **د روم** د امپراتور **تراجان** دربار ته یې یو سفیر ولېږه. او له هغوی سره یې د سوداګرۍ اړیکې ټینګې کړې. په دغه دوره کې د روم د سکې جوړولو هنري اغېز هم څرګند دي.




د وریښمو لار



(c) ketabton.com: The Digital Library

تر ويماكدفيسس وروسته د هېواد اداره د ده زوی **کنشکا** ته ورسېده. کنشکا د لرغوني **افغانستان** په تاريخ کې د ډېر واک خاوند او نامتو امپراتور و. د ده د امپراتورۍ حدود په ختيځ کې د **هندوستان بنارس** او لوېديځ کې د **پارتيانو** امپراتورۍ تر بريده او په شمال کې تر **کاشغر** او **يارکند** پورې رسېدلي وو. په ختيځ کې يې د چين او په لوېديځ کې يې د روم له هېوادونو سره سوداګريزې اړيکې درلودې. د **ورېښمو** نامتو لاره د کوشانيانو په ځانګړې توګه د کنشکا د واکمنۍ پر مهال نړيوال شهرت وموند. هغه د خپلې امپراتورۍ د ادارې لپاره دوه اداري مرکزونه درلودل ژمنۍ يې **پېښور** او اوړنۍ يې **بګرام** ټاکلی و.

کنشکا په (۱۴۷) ميلادي کال کې سترګې له نړۍ نه پټې کړې. د هغه زامنو د پلار ستره امپراتورۍ په خپل منځ کې وويشله، په هرګوټ کې هر څوک واک ته ورسيد او په مرکز کې د کنشکا تر مرګه وروسته د همدې کورنۍ بل تن د کاشکا په نوم د واک پرګدۍ کېناست.

د **کوشاني** واکمنۍ وروستنی امپراتور چې د کوشانيانو تر ولکې لاندې سيمو باندې پوره واکمن و د **واسشکا** يا **واسوديوا** په نوم ياديده. نوموړي په ۱۸۲ زېږديز کال کې د امپراتورۍ واګې تر لاسه کړې. سره له دې چې تر واسوديوا وروسته د کوشانيانو ستره امپراتوري د شهزاده ګانو ترمنځ په سيمه ييزو واکمنيو بدله شوه، خو د کوشانيانو واک او ځواک په بېلا بېلو ډولونو تر ۲۵۰ زېږديز کال پورې دوام درلود. د ځواکمنې ادارې تر ناتوانۍ وروسته سيمه ييزو واکمنانو او امرېنو ته د سرغړونې موقع برابر شوه. په پای کې د **ساساني** سلسلې پوځي دباو او فشار له يوې خوا او له بلې خوا په هېواد کې دننه د يوه غښتلي مرکزي ځواک نشتوالي دا موقع برابره کړه، چې سيمه ييز امرېن او وروسته بيا **يفتلي** امپراتورۍ واک ته ورسيږي.

## د مهال په ترتیب د کوشانیانو مهم امپراتوران

| | | د واکمنی مهال | د هغې دورې ځانګړتیاوې |
|---|---|---|---|
| ۱ | کجولا کد فیسیس | د ۴۰ څخه تر ۸۰ زېږدیز | دکوشانیانو د امپراتورۍ بنسټ اېښودونکی چې ۴۰ کاله د لرغوني اریانا او باختر تر ولکې لاندې سیمو باندې واکمن و. |
| ۲ | ویما تکتو | د ۸۰ څخه تر ۱۰۵ زېږدیز | دغه کوشاني امپراتور د لومړي ځل لپاره د رباتک د ډبرلیک پر بنسټ وپېژندل شو. د رباتک ډبرلیک په ۱۳۷۲ لمریز کال کې د بغلان او سمنګان په سیمو کې وموندل شو. |
| ۳ | ویما کد فیسیس | د ۱۰۵ تر ۱۲۷ زېږدیز پورې | دکوشانیانو لومړنی امپراتور و چې د هیواد پولې یې دګنګا تر سینده پورې ورسولې او د روم امپراتور تراجان دربار ته یې یو سفیر واستاوه. |
| ۴ | کنشکا | ۱۲۷ څخه تر ۱۴۷ زېږدیز پورې | دکوشانیانو د سلسلې ستر امپراتور شمېرل شوی چې دده د امپراتورۍ پراختیا په ختیځ او سوېل کې د هند تر ګنګا او بنارس پورې په لوېدیځ کې د پارتیانو امپراتورۍ پورې او په شمال کې کاشغر او یارکند پورې رسېده. |
| ۵ | واسودیوا (واسشکا) | د ۱۸۲ څخه تر ۲۲۰ زېږدیز پورې | دکوشانیانو وروستنی امپراتور چې ددغې سترې امپراتورۍ پرتولو سیمو یې واکمني درلوده تر واسودیوا وروسته سیمه‌ییزو امرینو مرکزي واکمني د خطر سره مخامخ کړه او سیمه‌ییز حکومتونه لا هم غښتلي شول. |

### په ټولګي کې فعالیت:

زده کوونکي دې پر دوو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د رباتک د ډبرلیک په اړه او دویمه ډله دې د کوشاني دورې د مهمو امپراتورانو په اړه خپلو ټولګیوالو ته معلومات ورکړي.

### پوښتنې:

۱. د کوشانیانو په اړه تر ټولو ډاډمن معلومات د ........................... ډبرلیک څخه لاس ته راغلي دي.

۲. د کوشانیانو لومړنی امپراتور د ................ په نوم یادیده.

۳. د کوشانیانو د ستر امپراتور په اړه په څه پوهېږئ؟ ویې لیکئ.

### له ټولګي څخه بهر فعالیت:

زده کوونکي دې د اسلام نه دمخه په افغانستان کې د مسکوکاتو او مجسمو انځورونه په خپرونو کې پیدا کړي او بیا دې خپل ټولګي ته وړاندې کړي.




(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ایا دکوشانیانو د مهمو سیاسي او فرهنګي مرکزونو په اړه معلومات





بامیان    هډه    بګرام

لکه څنګه مو چې په تېر لوست کې ولوستل کوشانیانو د خپلې پراخې امپراتورۍ تر ولکې لاندې سیمې له دوو سیاسي مرکزونو پېښور او بګرام څخه اداره کولې. په دې لوست کې بګرام، دکوشانیانو د امپراتورۍ د سیاسي مرکز په توګه او وروسته هډه دکوشانیانو د فرهنګي مرکز او بیا بامیان د بودایانو د عقیدتي سیمې په توګه په لنډ ډول پېژنو.

**الف**: **بګرام د کوشانیانو د امپراتورۍ مرکز**


اوسنی **بګرام** چې د څلوېښت میلو په واټن د **کابل** د ښار شمال خواته پروت دی، دوه زره کاله دمخه د **کوشانیانو** د امپراتورۍ اوړنی مرکز و. د دغه ښار بنسټ د یوځي مرکز په توګه له میلاد څخه وړاندې په دریمه پېړۍ کې د **سکندر** له لوري اېښودل شوی و. هغه مهال بګرام ته د **قفقاز** سکندریه ویل کېده. د بګرام په کیندنو کې د ودانیو د پاتې شونو برسیره په زرګونو تاریخي انتیک اثار او شیان وموندل شول. د ودانیو د پاتې شونیو څخه دا څرګندیږي چې د بګرام د ښار د ودانۍ پلان د دفاعي سیستم پر بنسټ جوړ شوی و. سره له دې چې سیمه ییزې ځانګړتیاوې لري د یوناني ودانیو ځانګړتیاوې هم په کې لیدل کیږي. د سیمه ییز ښار د جوړولو لپاره هغه یوناني اصول په نظر کې نیول شوي وو، چې د دوو سیندونو د یو ځای کېدلو موقعیت به یې د ښار جوړولو لپاره ټاکه، چې د **یونانیانو** د عمراني چارو له ځانګړتیاوو څخه و. سربېره پر دې د ښار څلورو خواو ته لوی دېوالونه او دفاعي برجونه جوړ شوي دي. د ۱۹۳۷ میلادي کال تر کیندنو وروسته په دغه ځای کې ډېر انتیک تاریخي اثار لکه د لاکو څخه جوړې شوي چیني صندوقچې، مسي او برونزي وړې مجسمې،

يوناني او رومي لوښي د هندي عاج څخه جوړې شوې ټوټې ګچې ټوټې او داسې نور موندل شوي دي دغه ټول آثار د هنر په لحاظ ظريف او د کوشانيانو شاهي کورنۍ پورې تړاو درلود.

موندل شوي اثار او شيان په ښکاره ډول دوه مطلبونه څرګندوي. **لومړی** دا چې دکوشانيانو د سوداګرۍ اړيکې له نورو هيوادونو او لرې سيمو سره تامين شوي وي. د سوداګرۍ کاروانونه د **روم** څخه **چين** ته د **وريښمو** له لارې رسېدل او د دغې نړيوالې لارې عمده برخه دکوشانيانو له امپراتورۍ څخه تېرېده. **دويم** دا چې بګرام د سياسي مرکز په توګه د هغه مهال يو له هغو سترو نړيوالو مرکزونو څخه و چې دکاروانونو په تګ او راتګ او د سياسي حاکميت په تامين کې يې ډېر مهم رول لوبولی دی.



عاجي مسجمه، چې د بګرام څخه تر لاسه شوې ده



د بګرام له ګچو جوړ شوی د زيوس مډال

## په ټولګي کې فعالت:

زده کوونکي دې پر دوو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د بګرام پر دفاعي سيستم باندې خبرې وکړي او دويمه ډله دې د بګرام د ښار پر تاريخچې خبرې وکړي.

## پوښتنې:

۱.په ................ ميلادي کال کې په بګرام کې کيندنې پيل شوې.

۲.د بګرام د ودانۍ پلان د ............... سيستم پر بنسټ طرح او جوړ شوی دی.

۳.د کوشانيانو پر مهال د سوداګرۍ د چارو په اړه په څه پوهېږئ؟ ويې ليکئ.

## له ټولګي څخه بهر فعاليت:

زده کوونکي دې د لارو او د لرغونې سوداګرۍ د څرنګوالي په اړه له خپلو مشرانو څخه پوښتنې وکړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## هډه د کوشاني امپراتورۍ فرهنګي مرکز



د بودايي معبد يو انځور په هډه کې

تاريخي **هډه د جلال اباد** د ښار په سوېل لوېديځه برخه کې کابو د (۱۰) کيلومترو په واټن پرته ده. دغه لرغونی ځای د افغانستان په تاريخ کې د مهمو فرهنګي مرکزونو په توګه ډېر ارزښتناک رول لوبولی دی. دغه پخوانۍ سيمه په تاريخي متونو کې د سيلانيانو او زيارت کوونکو له خوا په وار وار ياده شوې ده. **فاهيان** چيني زيارت کوونکي هډه د هيلو په نوم ياده کړې ده. **هيونسنګ** هم له هډې څخه د يو فرهنګي مرکز په توګه يادونه کړې ده.

د کيندنو په لړ کې هغه اثار او توکي تر لاسه شوي چې د خپل مهال د حاکمو حالاتو استازيتوب کوي. دا اغېزې د هغه مهال پر هنر، مذهب او پر هغو مذهبي ودانيو چې د هغه مهال د خلکو دګټې اخيستنې وړ وي، مونډل شوي او څرګندې شوي دي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

هډه په لرغونو وختونو کې د نوښتونو د راوړلو نامتو ټاټوبی و. د هډې د خلکو په ملاتړ د **بودايي** مذهب نوې طريقه د **هينايانا** په نوم چې د لويې عرداې معنا لري، دود وموند. د لومړي ځل لپاره په هډه کې د بودايي مجسمو د جوړولو موقع برابره شوه. د انګليسي لرغونپوه سرجان مارشال په باور په هډه کې د جوړو شويو مجسمو څېرو او بدني جوړښتونو په ټوليزه توګه **آريايي** (کوشاني او اسکايي) ډول درلود.

دغه ډول فعاليتونو د افغانستان په لرغوني تاريخ کې هډه د فرهنګي مرکز په توګه معرفي کړې ده.

هډه د **ګندهارا** د ښوونځي د مهمو هنري مرکزونو څخه وه. دګندهارا هنري سبک د منځنۍ اسيا او د لرغوني **هند** په ټولو سيمو کې شهرت لري. په دغه سبک کې تر ټولو دمخه د بودايي مجسمو جوړولو ته پام اوړي. دګندهارا ښوونځی له دوو سبکونو او هنرونو څخه جوړ شوې ده، د مجسمو جوړښتي موازنې په ساتلو کې يې له يوناني سبک څخه کار اخيستی و. په داسې حال کې چې څېره او معنوي هويت يې له هندي بودايي دين څخه اخيستی و.

په هډه کې د هنر او ودانيو بېلا بېل ډولونه تر لاسه شوي، چې ځانګړې ارزښت لري. د هډې په سيمه کې د ګچو څخه جوړې شوې څېرې د هند په حوزه کې د جوړو شوو هيکلونو سره ښکاره توپير لري.



## په ټولګي کې فعاليت:

زده کوونکي دې پر درو ډلو وويشل شي. لومړۍ ډله دې د هډې د نوښت په اړه، دويمه ډله دې د ګندهارا د ښوونځي او دريمه ډله دې د هډې د هنري ځانګړتياوو په اړه خپل معلومات په ټولګي کې ووايي.



## پوښتنې:

۱.د هډې لرغونې سيمه ولې د فرهنګي مرکز په نوم ياده شويده؟ شرح يې کړئ.

۲.دګندهارا ښوونځی له کوم سبک او هنر څخه جوړ شوې ده؟

۳.هډه په پخوا زمانو کې په کوم نوم يادېده؟



## له ټولګي څخه بهر فعاليت:

زده کوونکي دې د ننګرهار د هډې په هکله د خپلو مشرانو څخه پوښتنې وکړي او خپل معلومات دې په ټولګي کې بيان کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

شپاړلسم لوست

# باميان د بودايي عقيدې مرکز




د باميانو په سمڅو کې د رنګه انځورګرۍ يو انځور

**باميان** د هېواد له مهمو فرهنګي او تاريخي سيمو څخه دی. د ډېرو هنري او تاريخي آثارو په درلودلو سره په **۲۰۰۳** کال کې د نړۍ د فرهنګي ميراث په اداره کې ثبت شوی دی. باميان اوږد تاريخ لري چې د هغه ريښې له ميلاد نه دمخه او لومړنيو ميلادي پېړيو ته رسيږي. په باميانو کې د لرغونپوهانو څېړنې دا ښيي چې انسانانو له ډېرو پخوانيو زمانو راهيسې له دغې تاريخي سيمې څخه ګټه اخيستې ده. ددغې ادعا لپاره ډېر ثبوتونه موندل شوي دي. د **چيني** مسافرانو ليکنې په دې اړه زيات معلومات د تاريخ ليکونکو په واک کې ورکړي دي. د دې زيارت کوونکو څخه يو هم **هيونتسنګ** و چې په شپږمه ميلادي پېړۍ کې يې باميان ليدلی او د باميانو په اړه يې ډېر ګټور مطلبونه ليکلي دي. د چيني زيارت کونکي په يادښتونو کې راغلي چې ((د باميان ښار د بودايي مذهب مهم مرکز دی. په دغه ښار کې په لس ګونو بودايي مدرسې شته چې زده کوونکي روزي. ددغې مدرسې استادان زرهاوو تنو ته رسيږي. زيارت کوونکي له ډېرو لېرو ځايونو او بهلا بېلو هېوادونو څخه دغه مذهبي مرکز ته راځي.))

په باميانو کې د بودايي دوران ډېرې مجسمې پاتې دي. دغه مجسمې په بېلا بېلو اندازو (لويې او

وړې) جوړې شوي دي. تر ټولو ستره مجسمه چې د **صلصال** په نوم مشهوره ده، د پنځه پنځوس مترو په جګوالي د غره په بدنه کې جوړه شوې ده، بله مجسمه چې د هغې جګوالی پنځه دیرش مترو ته رسیږي د **شمامه** په نوم یاده شوې ده. دا مجسمه هم کابو د یو کیلو متر په واټن د صلصال څخه لرې جوړه شوې ده. د هغه په څنګ کې نورې مجسمې هم جوړې شوې، چې پاتې شونې یې د دوو سترو مجسمو د سمڅو په شاوخوا کې شتون لري.

د بامیانو په سمڅو کې سربېره پر مجسمو، زړه وړونکي او ښکلي نقاشۍ هم انځور شوي چې تاریخي او هنري ارزښت یې ډېر دی. په دغو نقاشیو کې د نورو رنګونو تر څنګ د روغني رنګونو څخه هم کار اخیستل شوی دی. دغه نقش او نګار په نړۍ کې تر ټولو لرغوني انځورګرۍ شمېرل شوي، چې په هغه کې روغني رنګ کارول شوي دي. د بامیانو ارزښت په اقتصادي توګه هم د پام وړ دی. په تېرو زمانو کې د **وریښمو** د لارې سوبلي څانګه هم له بامیانو څخه تېرېده. د سوداګرۍ کاروانونه له **هند** څخه **بلخ** او له بلخ څخه هند ته له همدغې لارې تېرېدل. د دغو کاروانونو سره زیارت کوونکي او هغه زده کوونکي هم ملګري وو چې د مذهبي مراسمو د تر سره کولو لپاره او یا د بودايي دین د اصولو د زده کولو لپاره بامیانو ته راتلل.



## په ټولګي کې فعالیت:

زده کوونکي دې پر دوو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د بامیانو د مهمو تاریخي اثارو په اړه او دویمه ډله دې د هیونتسنګ د لیکنو په اړه په ټولګي کې توضیحات ورکړي.

## پوښتنې:

۱.هیونتسنګ د بامیانو په اړه څه لیکلي دي؟ ویې لیکئ.

۲.د بامیانو د رنګه نقاشیو په اړه څه معلومات لرئ؟ ویې لیکئ.

۳.بامیان د ................................. اداري له خوا د نړیوالو کلتوري میراثونو په توګه ثبت او منل شوي دي.

## له ټولګي څخه بهر فعالیت:

زده کوونکي دې له خپلو میندو او پلرونو څخه د بامیانو د سترو مجسمو په اړه پوښتنې وکړي او خپل معلومات دې په ټولګي کې ووایي.

۱. د یادونې وړ ده چې د دغو بې سارو مجسمو ورانېدل د پردیو په لمسون په ۲۰۰۱ میلادي کال ترسره شوي چې دا ناوړه عمل د ټولو هېوادوالو او د نړۍ د فرهنګي ټولنو له لورې وغندل شو.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ایا تاسو یفتلیان پېژنئ؟



د یفتلي پاچاهانو سکې چې په افغانستان کې موندل شوي دي



د سوریا مجسمه د کابل د خیر خانې مېنې له کشفیاتو څخه

مخکې له دې چې **یفتلیان** دیو غښتلي دولت په توګه د لرغوني افغانستان پر اوضاع باندې و اکمن شي، د افغانستان په لوېدیځ کې د **ساساني** امپراتورۍ بنسټ ایښودل شوی و. د **واسودیوا** تر واکمنۍ وروسته په افغانستان کې د **کوشانیانو** امپراتورۍ د سیمه ییزو واکمنیو او ګډوډیو سره مخامخ وه، په دغه موقع کې ساسانیانو د کوشاني امپراتورۍ ځینې سیمې د وقفه یي جګړو په ترڅ کې ونیولې او څه موده وروسته د خلکو د مقاومت او ټینګښت په پایله کې شاتګ ته اړ شول. د ساسانیانو د پرله پسې بریدونو له امله په افغانستان کې یفتلیانو ته دا موقع برابره شوه، چې د **هندوکش** په شمالي سیمو کې خپل واک ټینګ کړي.

یفتلیان په تاریخي متونو کې د **هفتالیان- یفتلیان** او **خوینت** او **عربانو** بیا د **هیاطله** په نوم یاد کړي دي. د پرکیپو ویس په نوم **بیزانسي** تاریخ لیکونکي چې د یفتلیانو پر مهال یې ژوند کاوه. د دغوی په اړه لیکي: هفتالیانو د ژېړ نژاد سره توپیر درلود دغوی سپین پوستکي او په عین وخت کې مهذب مدني خلک و و.

د یفتلیانو لومړنی ټولواک د **ایفتالیتو** په نوم پېژندل شوی، چې په ۴۲۵ میلادي کال یې په اوسني **تخار** کې د ټولواکۍ خول پر سر کېښود. د نوموړي د واکمنۍ حدود له **بدخشان** څخه تر **بلخ** او **سغدیانه** پورې رسېدل. تر ده وروسته دده زوی **اخشنور** واک ته ورسېد. نوموړي د **هرات** ښار تر خپلې ولکې لاندې راوست. د ساسانیانو سره په یوې جګړې کې بندي شو، خو **فیروزشاه ساساني** نوموړی د دې لپاره چې فرمانبرداره پاتې شي وبخښه د

فیروزشاه دغه کار نتیجه ورنکړه. او اخشنور څلور ځلې نور هم د خپل هېواد د دفاع لپاره د فیروزشاه سره وجنګید، چې دا ټولې جګړې د یفتلیانو په ګټه وې.

اخشنور په پرله پسې ډول د خپلې امپراتورۍ د پراختیا لپاره کوښښ وکړ. د **هندوکش** سوېلې برخې لکه **کابل**، **غزني** او **هلمند** یې تر خپلې ولکې لاندې راوستې. وروسته له هغه ډېر یفتلي قبایل د هندوکش په سوېلي برخو کې مېشت شول. دغو قبیلو وروسته د **زابل شاهانو** په نوم د افغانستان په لرغوني تاریخ کې ستر رول ولوباوه.

د **تورامانا** او **مهراکولا** نومونه د یفتلیانو په تاریخ کې ډېر مهم ګڼل شوي تورامانا د یفتلي امپراتورۍ سیمې تر **شمالي هند** پورې ورسولې نو موړي په هندکې د نورو سیمو د نیولو له پاره خپل لښکر په **سیالکوټ** کې چمتو کړ او د **سکاندا** او **ګوپتا** سیمې یې ونیولې. د **ګوالیار** ډبر لیک کې یې د هغه نوم (**تورامانا مهاراجاه زابلي پاچا**) لیکلی دی. تر تورامانا وروسته دهغه زوی مهراکولا واک ته ورسید. نوموړي هم د امپراتورۍ د پراختیا له پاره کوښښ وکړ او ډېرې سیمې یې تر خپلې اداري لاندې راوستې. دګوپتا پاچې شونې یې په مرکزي هند کې له منځه یو وړل. خو څه موده لا تېره شوې نه وه چې دګوپتا پاچې شونې بو ځل بیا سره یو ځای شول او په ۵۲۸ میلادي کې یې د یفتلیانو واکمنې په مرکزي هند کې د خطر سره مخامخ کړه.

یفتلیان د بودایي دین پر خلاف وو. یو شمېر بودایي عبادت ځایونه یې وران کړل. هغوی په رڼا عقیده درلوده او د لمر نمانځنه به یې کوله. دغه مطلب د یفتلیانو د دوران په ډېر لیک کې څرګند دی. په یفتلي مسکوکاتو کې د ګیې وني او لوړې پوزې لرونکې او افغاني بڼې څېرې کیندل شوي دي، غوږوالې یې درلودې او جامې یې د ننني کوچیانو په شان وې. د هغو په مسکوکاتو کې د زور او سور (زمیندارو) له عبادت ځایونو څخه یادونه شوې، چې د لمر لمانځنې په معنا و. هغوی د اور تونونو انځورول په مسکوکاتو کې هم منعکس کړي دي. د لمر درب النوع مجسمه (**سوریا مجسمه**) چې د خیرخانې مېنې له کوتله پیدا شوه، دهغه مهال د عقیدې ډېره ښکاره بېلګه ده.

لنډه دا چې د کوشانیانو او یفتلیانو پاتې شونې لکه **زابل شاهان**، **کابل شاهان**، د **بامیان شیران**، **سوریان** او داسې نور د عربانو د لښکرو تر راتګ پورې د افغانستان پر بېلا بېلو سیمو واکمنې درلوده.

په عربستان کې د اسلام مبارک دین تر خپرېدو وروسته عربي لښکرې افغانستان ته ورسیدې. په دغه موده کې به کله عربان د افغانستان پر بېلا بېلو سیمو واکمن وو او کله به ځایي امیران واکمن وو چې دوې پیړۍ وخت یې ونیو، تر هغه چې په افغانستان کې د خپلواکو اسلامي حکومتونو د رامنځته کېدلو موقع برابره شوه.

### په ټولګي کې فعالیت:

زده کوونکي دې پر دوو ډلو وویشل شي. لومړۍ ډله دې د یفتلیانو د سیاسي اوضاع په اړه خبرې اترې وکړي او دویمه ډله دې د یفتلیانو د مذهبي وضعې په اړه خپل ټولګي ته معلومات ورکړي.

### پوښتنې:

۱. یفتلیان په کومو نومونو یاد شوي دي؟ ویې لیکئ.
۲. د مهراکولا په اړه څه پوهېږئ؟ په لنډه توګه خپل معلومات ولیکئ.
۳. د یفتلیانو د مذهب په اړه څه پوهېږئ؟ په لنډه توګه یې ولیکئ.

### له ټولګي څخه بهر فعالیت:

زده کوونکي دې د شاوخوا له پوهانو نه له منځه تللو دینونو په اړه پوښتنې وکړي او خپل معلومات دې په ټولګي کې بیان کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# دریـــم څپرکی

:د لرغوني نړۍ تمدونونه

-ایا د مصر د تمدن په اړه معلومات لرئ؟

-راشئ د بین النهرین له پخواني تمدن سره اشنا شئ!

-ایا د ایران د پخواني تمدن په اړه معلومات لرئ؟

-د هند د لرغوني تمدن سره اشنا شئ!

-ایا د چین د لرغوني مدنیت څخه خبر یاست؟

-ایا پوهېږئ چې د یونان پخواني تمدن څرنګه پیل شو ؟

ایا اوریدلي مو دي چې د پخواني روم امپراتورانو ته یې د اروپا واکمنان ویل؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د دریم څپرکی موخې

په دې څپرکي کې زده کوونکي د بین النهرین د تمدن ځانګړنې زده کوي، د ایران لرغونی تمدن پېژني، د هند لرغوني تمدنونه زده کوي، د چین د پخواني لرغوني مدنیت سره اشنايي پيدا کوي، د یونان تمدن پېژني او د روم د لرغوني تمدن په اړه معلومات پیدا کوي.



## آیا د مصر د تمدن په اړه معلومات لرئ؟



د مصر اهرام

**د مصر** هېواد په **افريقا** کې پروت دی، تاریخ لیکونکي باور لري چې د **نیل سیند** په مصر کې د لومړني بشري مدنیت د پیدایښت مهم عامل و. په پخوانی زمانه کې مصري وګړي په لومړي ځل وتوانېدل چې انځوریز لیک منځ ته راوړي، په دې لیک کې هره نښه یو بیان ته ځانګړې شوې وه. **یونانیانو** دا لیک د **هیروغلیف** په نوم یاد کړ چې **معنا** یې سپېڅلي حکاکي ده. دا لیکونه یې پر ډبرو، لرګیو، پوټکو او اوبدل شویو ټوکرانو لیکل، خو د **پاپیروس** کاغذونه د دې ډول لیکنو لپاره زیات کارول شوي دي.

د مصري ودانیو هنر د لرغوني نړۍ له عجایبو **څخه** شمېرل کیږي چې مصري اهرامو نه یې ښې بېلګې دي په مصر کې تر ټولو ستر هرم د **کیوپس** په نوم یادیږي. دا حرم د شلو (۲۰) کلونو په ترڅ کې جوړ شوی دی.

په پخواني مصر کې ډېر تاریخي بحثونه د **فرعونیانو** په اړه دي. مصریانو به خپلو پاچاهانو ته **فرعون** یا **لوی کهول** ویلې. د مصر د مشهورو لرغونو کورنیو نومونه په لاندې جدول کې ولولئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

په پخواني مصر کې د لرغوني کورنۍ نه بيا د فرعونيانو تر دريم دوران پورې نولس تنو پاچاهانو واکمني درلوده. مصريانو د خپلو ګاونډيانو سره سوداګريزو اړيکو ته پراختيا ورکړې وه. ددغه مطلب ثبوت په مصر کې د افغانستان د لاجوردي ډبرو شتون و، چې درې زره کاله پخوا تر ميلاده هلته رسېدلې وې. د مصر وروستي فرعون د **پسماتيک** په نوم يادېده چې د **هخامنشيانو** په وسيله تر ميلاده ۵۲۵ کاله وړاندې له منځه ولاړ. د هخامنشيانو واکمني د يونانيانو په وسيله په ۳۳۶ ق م کال کې له منځه ولاړه او مصري يونانيان د روميانو په وسيله شاته وتمبول شول. او **روميان** د مسلمانانو له خوا په اومه ميلادي پېړۍ کې له ماتې سره مخامخ شول.

| شمېره | د کورنۍ نوم | د واکمنۍ دوره |
|---|---|---|
| ۱ | لرغوني کورنۍ | ۳۲۰۰ تر ۲۶۶۵ پخوا تر میلاد |
| ۲ | د فرعونيانو لومړنۍ کورنۍ | ۲۶۶۴ تر ۲۱۵۵ پخوا ترمیلاد |
| ۳ | دفرعونيانو د لومړنۍ کورنۍ د واکمنۍ پای | ۲۱۵۴ تر ۲۰۵۲ پخوا تر میلاد |
| ۴ | د فرعونيانو دوهمه دوره | ۲۰۵۲ تر ۱۷۸۶ پخوا تر میلاد |
| ۵ | دفرعونيانو دوهمې دورې پای ته رسېدل | ۱۷۸۵ تر ۱۵۵۴ پخوا تر میلاد |
| ۶ | د فرعونيانو دريم پېر | ۱۵۵۴ تر ۱۰۷۵ پخوا تر میلاد |


مصری فرعون (توتنخامون)

## په ټولګي کې فعاليت:

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي، لومړۍ ډله دې د انځوريز ليک په اړه خپل معلومات په ټولګي کې وړاندې کړي. او دوهم ګروپ دې د مصريانو د ودانيو د پرمختګ په اړه معلومات ټولګي ته وړاندې کړئ.

## پوښتنې:

- د مصري انځوريز ليک په اړه څه پوهېږئ؟ وې ليکئ!
- د مصريانو د معمارۍ په اړه خپل معلومات وليکئ!
- د مصريانو د سوداګريزو اړيکو په اړه څه پوهېږې؟ ويې ليکئ!

## د ټولګي څخه بهر فعاليت:

زده کوونکي دې په خپل کلي کور کې د مصريانو په اړه کيسې وپوښتي او خپل لاسته راوړي معلومات دې ټولګيوالو ته ووايي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## راشئ د بين النهرين له پخواني تمدن سره آشنا شئ



د ميخي ليک د بېلګې انځور



د اشور بناپال پاچاه

هغه جغرافيايي حوزه چې د دو و سيندونو (**دجلې او فرات**) ترمنځ پرته ده، د **بين النهرين** په نوم يادېږي. تاريخ ليکونکي په دې باور دي چې د نړۍ ډېر پخوانی مدنيت په بين النهرين کې منځته راغلی دی. د دجلې او فرات سيندونو څنډې د تمدن د منځته راتلو او ودې ډېرې ښې زمينې درلودې. يو شمېر لرغون پوهان په دې باور دي چې د **نوح** (ع) د مهال توپان په همدې بين النهرين کې پېښ شوی دی.

د بين النهرين يو ډېر لرغوني ځای د (**تل حسونا**) په نوم يادېږي. دا لرغوني سيمه پنځه زره کاله پخوا تر ميلاده يو لوی کلی و چې وګړو يې د غلو دانو کرلو سره اشنايي درلوده. هغوی د خلکو د ډېروالي له امله سوبلي بين النهرين ته کډوال شول، هلته يې د نوي تمدن زمينه برابره کړه چې د **سومريانو د تمدن** په نوم يادېږي. د همدې تمدن وګړو د لومړي ځل لپاره يو ځانګړی ليک دود رامنځته کړ چې د ميخي ليک په نوم يادېږي.

په بين النهرين کې يو بل مهم تاريخي سياسي مرکز (**اشور**) و. په دې ځای کې ځواکمن پاچاهان منځته راغلل او ډېرې سيمې يې تر خپل واک لاندې راوستلې. لومړني اشوري پاچا **لومړی سارګون** نومېده. نوموړي شاوخوا ۱۹۰۰ کاله پخوا تر ميلاده د اور ښار تر خپل واک لاندې کړ. دا سلسله تر او و مې ميلادي پېړۍ پورې د بين النهرين په بېلا بېلو سيمو واکمنه وه. د اشور وروستني پاچا **اشور بناپال** نومېده چې زياتې سيمې يې

په خپله واکمنۍ کې شاملې کړې. بناپال د اعلامیانو سره جګړه وکړه او په پای کې یې هغوی ته ماتې ورکړه. او د هغوی د واکمنۍ سیمې یې هم تر خپل واک لاندې راوستې.

په بین النهرین کې بل تاریخي ښار **بابل** دی. د بابل واکمنانو د بین النهرین پر ټولو سیمو واکمني درلوده. تاریخ لیکونکو د بابلیانو د واکمنۍ دوران پر درو پړاونو ویشلی دی.

د لومړي پړاو ډېر مهم امپراتور **هامورابي** نومیده. هامورابي د خپلې واکمنۍ پر مهال خپلو خلکو ته قانون جوړ کړ چې د همورابي قانون په نوم یادیږي. په دې قانون کې د خلکو د ژوند ټولو چارو ته پام شوی و. له مجازاتو نیولې تر کروندګرۍ او ګرځندویي چارو او مسافرتونو پورې ټول اړخونه یې تر سوري لاندې راوستي وو.

د بابلیانو دوهم پړاو **د کاسیانو** د قام د واکمنۍ مهال دی. کاسیانو د هامورابي واکمني پای ته ورسوله او تر هغه وروسته پنځه سوه کاله پر له پسې د بین النهرین پر سیمه واکمن وو. د بین النهرین لوی ښارونه او نورې سیمې یې هم تر خپلې واکمنۍ لاندې راوستلې.

**د ایلام** ښار او سپدونکو له میلاده تریو ولسمې پېړۍ وړاندې دیوه ځواکمن برید په ترځ کې دکاسیانو واکمني پای ته ورسوله.

د بابل دریمه پړاو هغه مهال پیل شوه چې کلدانیان واک ته ورسېدل. پوځي افسر نبیو لا نصر لومړنی کلداني واکمن و چې بابل یې شپږ پیړۍ وړاندې تر میلاده ونیو. ددې لړۍ وروستنی پاچا **د بخت نصر** په نوم یاد شوی چې د **یهودیه** سیمې یې تر خپل واک لاندې کړې. له بخت نصر وروسته **د کلدانیانو** واکمني د هخامنشیانو په لاس له منځه ولاړه. تر هخامنشیانو وروسته د بین النهرین پر سیمو **ساسانیان** واکمن شو او ساسانیان بیا په اوومه میلادي پیړۍ کې د مسلمانانو په لاس له منځه ولاړل.

## په ټولګي کې فعالیت:

زده کوونکي دې په درو برخو وویشل شي. لومړۍ ډله دې د تل حسونا په اړه، دوهمه ډله دې د اشور په اړه او دریمه ډله دې د بابلیانو په اړه خپل معلومات په ټولګي کې بیان کړي.

## پوښتنې:

- بین النهرین چېرته موقعیت لري؟
- د اور په اړه څه معلومات لرئ وې وایئ.
- د هامورابي قانون په اړه خپل معلومات ولیکئ.

## له ټولګي څخه دباندې فعالیت:

زده کوونکي دې د خپل جومات له ملا امام نه د نوح (ع) د توپان په اړه پوښتنې وکړي او خپل معلومات دې په ټولګي کې بیان کړي.




(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ایا د ایران د پخواني تمدن په اړه معلومات لرئ؟



د کوروش مقبره

لکه څنګه چې د کډوالۍ په برخه کې یادونه وشوه، په بلخ کې د اریایانو شمېر زیات شو او په مهاجرت یې پیل وکړ، یو شمېر د شمالي هند پر لور، یو شمېر یې د اریانانو په دننه کې او ځینو یې لوېدیځ پلو ته په کډه کولو پیل وکړ، هغه اریایان چې لوېدیځ لور ته کډه شول لومړی ایران، وروسته ترکیې او په پای کې اروپا ته ورسېدل. کوم شمېر چې په ایران کې مېشت شول د اریانا د تمدن د لړۍ پر دوام یې یو بل تمدن د فارس په نوم رامنځ ته کړ چې د هغه په اړه په لاندې ډول بحث کېږي:

**سیالک، جیروفت** او **شهر سوخته د ایران** نامتو لرغوني سیمې دي. د سیالک وګړو د خپلو ګاونډیو سیمو لکه **د افغانستان** د **منډیګک** او سپډونکو او **د هند** د **موهنجودارو** او **هړپې** د خلکو سره او هم یې په لوېدیځ کې د **دجلې** او **فرات** د سیندونو د شا او خوا اوسېدونکو سره اړیکې درلودې.

د ایران په لوېدیځ کې تر میلاده لس پېړۍ وړاندې د ماد وګړو د پخواني پارس د لومړني دولت زمینه رامنځته کړه. د **هیرودت** په وینا (**دیاکو**) نومي شخص د ماد قبایل تر خپلې واکمنۍ لاندې راوستل. له هغه څخه وروسته درې پاچاهان له دې لړۍ نه واک ته ورسېدل. د مادانو واکمنی د **کوروش** په لاس له میلاده د مخه په ۵۵۳ کال کې راوپرزېده. د **مادانو** د دولت ختمیدل په ایران کې د **هخامنشیانو** د واکمنۍ پیل و. لوی کوروش له میلاد څخه ۵۵۸ کاله وړاندې د هخامنشیانو د دولت بنسټ کېښود. کوروش د **هخامنشیانو** د دورې یو ډېر مشهور پاچا و.

له کوروش نه وروسته د هغه زوی (**کمبوجه**) واک ته ورسېد. وروسته له هغه د هخامنشیانو اته پاچاهان واکمنی ته ورسېدل. بالاخره د ۲۴۸ - ۳۳۵ کال پخوا تر میلاده د هخامنشیانو وروستنی پاچا **دریم داریوش** د مقدوني **سکندر** د یرغل په ترڅ کې ماتې وخوړه. او ورسره یو ځای د دې لړۍ واکمني هم پای ته ورسېده.

د سکندر له مړینې وروسته د **سلوکیدیانو** لړۍ واک ته ورسېده، چې د **رومیانو** له لوري راوپرځېده او له هغه وروسته رومیان د ایران پر یوې خوا او **اسکانیان** د ایران پر بلې خوا واکمن وو، چې دوه پېړۍ وړاندې تر میلاده د **ساسانیانو** له لوري له ماتې سره مخ شول.

ساسانیان په ایران کې تر اسلام وړاندې د امپراتوریو وروستنۍ لړۍ وه. د ساساني کورنۍ بنسټ ایښودونکي **بابکان** یاد شوي دي. ساسانیانو زردشتي مذهب درلود. تر بابک وروسته د هغه زامن شاپور او اردشیر بابکان په دریمه میلادي پېړۍ کې واک ته ورسېدل. اردشیر د خپلې واکمنۍ په دوران کې د سیمې په پراختیا کې ډېرې برياوې لاس ته راوړې. د هغه ځای ناستي لومړی په خپلو منځونو او بیا د گاونډیو هېوادونو سره په جگړو بوخت وو.



د ساسانیانو یو مشهور پاچا **دویم شاپور** په شپاړس کلنۍ کې واک ته ورسېد. او اویا کاله یې واکمني وکړه دویم شاپور د ساسانیانو تر پیدایښت پخوا د پاچا په حیث منل شوی و. د ساسانیانو وروستنی پاچا **دریم یزدگرد** وچې د ده واکمني د مسلمانانو له خوا په ۶۴۱ میلادي کال کې پای ته ورسېده.

## په ټولگي کې فعالیت:

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د هخامنشیانو په اړه او دوهمه ډله دې د ساسانیانو په اړه خپل معلومات په ټولگي کې ووایي.

## پوښتنې:

۱- د سیالک د لرغونې سیمې او د گاونډیو سیمو سره یې د اړیکو په اړه څه پوهېږئ؟ ویې لیکئ.
۲- د هخامنشیانو د امپراتورۍ بنسټ ایښودونکي څوک و؟ د هغه په اړه خپل معلومات ولیکئ.
۳- د ایرانیانو د سلسلې وروستني امپراتوران په کوم نوم یادېدل او د هغې لړۍ د وروستني پاچا نوم واخلئ.

## له ټولگي څخه دباندې فعالیت:

زده کوونکي دې له خپلو مشرانو نه د حضرت محمد مصطفی (ص) د لیکونو په اړه چې د هغې زمانې پاچاهانو ته یې لیکلي و وپوښتي او خپل معلومات دې په ټولگي کې بیان کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د هند د لرغوني تمدن سره اشنا شئ



دغه انځور د موهنجودار د ښار پاتې شوې ښيي.

تاریخ لیکونکو د **هند** لرغوني تمدن د **هړپه** او **موهنجودارو** څخه پیل کړی. دري زره کاله پخوا تر میلاده د هند په شمال لوېدیځ کې د یوه مدنیت بنسټ کېښودل شو چې په سیمه کې بې ساری یاد شوی دی. د هړپې وګړو د غنمو کرنه زده وه، فلزي وسایل یې جوړول. او د څارویو رمې او ګلې یې روزلې.
د لرغوني هند بل ښار موهنجودارو، و. دغه ښار هم د **سند** د سیند په څنډه اباد شوی و. ددغو وګړو پاتې شوي اثار په ډاګه کوي چې په سل ګونو زره خلکو په دې ښار کې ژوندکاوه. یو پوړیز او دوه پوړیز کورونه یې جوړول.
د نهرونو او کانالونو سیستم یې د کورونو په جوړولو کې په کار اچاوه څو د اوبو ویالې یې **هغسې** جوړې کړي وي چې صافې او پاکې اوبه له یوه مرکز څخه رابهیدلې. استوګنځایونه، ګدامونه او زېرمتون یې لرلې.
د هند تېر شوی لرغونی تاریخ د **ماها بهاراتا** او **رامایانا** پر سرچینو ولاړ دی. دغه تاریخي اسناد ډېر زیات د هغو سیمو نه بحث کوي چې د **همالیا** او **ګنګا** د سیند په سیمو پورې اړه لري. ددې سرچینو په بحثونو کې قبیلوي ژوند، تولنیز نظام او د غلامانو او مالکانو بحثونه مطرح شوي دي. ددې اسنادو څخه په ډاګه کیږي چې د هند تېر لرغوني تاریخ له دغو سیمو راپیلیږي.

**اریایان** د لرغوني هند په ځمکه لومړني نوي راغلي خلک وو. د دې دورې ډېر زيات معلومات د ويدي سرودونو په منابعو کې شته. دهند ځمکې ته د اريايانو راتلل يو زرو پنځه سوه کاله پخوا تر ميلاده ګټل کېږي. هغوی په سر کې څاروي ساتل، وروسته له کرنې او ځمکه والي سره اشنا شول. د اريايانو په خواکې نورو وګړو چې **دراویدیان** نومېدل هم ژوند کاوه. هغوی د هند ډېر بيوزله خلک وو. د اريايانو له راتګ څخه مخکې هندي ټولنې په ټوليزه توګه څلور ټولنيزې طبقې درلودې. چې د **کشتريه**، **برهمن**، **ويسپه** او **شودرا** په نامه يادېدې.
د هندي ټولنې د بودايي قانون بنسټ له ميلاده شپږ پېړۍ دمخه د **ګوتاما** (**بودا**) په واسطه د هند په شمال کې کېښودل شو. هغه خلکو ته د عبادت، ټولنيزو قربانيو او اخلاقي او اقتصادي مسايلو په اړه لارښوونه کوله. د **موريايي** ځواکمن دولت له تاسيس نه وروسته د بودايي دين د پرمختګ لپاره زياته زمينه برابره شوه.
د موريانې امپراتورۍ بنسټ ايښودونکی **چندرا ګوپتا** له ميلاده ۳۲۲ کاله وړاندې د نآندا د کورنۍ څخه واک ترلاسه کړ. د **ګوپتانيانو** نوميالی امپراتور د **اشوکا**[۴] په نوم يادېده چې د بودايي دين پيرو و. ده د بودايي دين په پراختيا کې ډېر زيار ويست.
دګوپتانيانو امپراتورۍ په لومړۍ ميلادي پېړۍ کې دکوشانيانو تر يرغلونو لاندې راغله او مخ په زوال شوه. وروسته له هغه دګوپتانيانو سيمه ييزو واکمنيو خپل حاکميت ته په بېلا بېلو سيمو کې دوام ورکړ. تر هغه پورې چې په ۵۰۰ ميلادي کال کې هندي قومونو له شمال لوېديځ نه يرغل راوړ او د ګوپتانيانو ټول سيمه ييز حکومتونه يې راوپرزول او بله لړۍ د (**هارشا**) په نوم واکمنۍ ته ورسېده. په هندکې شاوخوا تر ۶۰۰ ميلادي کال پورې درې دولتونو واکمني درلوده. چې له هغې ډلې څخه يو هم **راجپوتان** و چې د هند په شمال کې يې واک چلېده. هند د دې لړۍ د واکمنۍ په دوران کې د مسلمانانو د پرله پسې يرغلونو لاندې راغی. د هغوی يرغلونو تر هغه پورې دوام وکړ، چې په لسمې ميلادي پېړۍ کې د **غزنويانو** او **غوريانو** تر مشرتابه لاندې خپلواک اسلامي دولتونه پر هند واکمن شول.

## په ټولګي کې فعاليت:

زده کوونکي دې په دوو ډلو وويشل شي. لومړۍ ډله دې د هند د پخواني لرغوني مدنيت په اړه او دوهمه ډله دې د موريايانو په اړه لازم معلومات وړاندې کړي.

## پوښتنې:

۱. کومې لرغونې سيمې د هند د لومړنيو مدنيتونو استازيتوب کوي، معرفي يې کړئ؟
۲. په لرغوني هندکې څو ټولنيزې طبقې موجودې وې؟ نومونه يې واخلئ.
۳. دګوپتانيانو مشهور امپراتور چې بودايي دين ته يې عقيده لرله څه نوميده؟ په لنډ ډول په موضوع باندې رڼا واچوئ.

## د ټولګي نه د باندې فعاليت:

زده کوونکي دې د هند او د هند د تاريخ په اړه د شاوخوا پوهانو او مشرانو نه پوښتنه وکړي او راټول شوي معلومات دې په لنډه توګه خپلو ټولګيوالو ته وړاندې کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## آیا د چین د لرغوني مدنیت نه خبر یاست؟



تر تاریخ وړاندې دورې د چیني مجسمو انځور

د شلمې پېړۍ تر پیله پورې د **چین** د پخوانیو انسانانو د ژوندانه په اړه څېړنې نه وې پیل شوې. د چین وګړو باور درلود چې که څوک په تاریخي او لرغونو سیمو کې د سپړنو کار وکړي، هغه به په هغې ناروغۍ اخته شي چې له امله یې دا پخواني کسان مړه شوي، نو ځکه یې د څېړنو او سپړنو چارو ته اجازه نه ورکوله. د شلمې پېړۍ په سر کې په چین کې د ځینو لرغونو سیمو سروې پیل شوه چې په پایله کې د تاریخي او له تاریخه وړاندې دورو ډېر اثار په لاس راغلل.

د **جاوکوتیان** په سمڅو کې د چیني انسانانو نمونې په لاس راغلې دي. دغه لرغونې سیمې د **پکن** ښار ته څېرمه پرتې دي. د لرغون پوهانو په باور چیني انسانانو شاوخوا پنځه ویشت زره کاله پخوا د همدې پکن په سیمو کې ژوند کاوه.

د چین په نورو لرغونو سیمو کې د **یانګ شاي** په نامه د انساني کلتور بېلګې کشف شوې چې د هغه تاریخ له میلاده څلور زره کاله پخوا ته رسېږي.

د چین د خلکو لومړنۍ امپراتوري د **شانګانو** په نامه یاده شوې چې دې لړۍ له میلاده اولس پېړۍ



(c) ketabton.com: The Digital Library

وړاندې بیا تر لسمې پېړۍ پورې د چین پر لوی هیواد واکمني درلوده. په چین کې د ستورو د پېژندګلوۍ لومړنۍ نښې د شانګانو په دورې پورې اړه لري. سربېره پر دې يې د شپو او ورځو، د میاشتو د وېش سیستم هم کارولی دی.

د چین د تاریخ یوه بله پخوانۍ مهمه کورنۍ د **چو**کورنۍ وه. له دولسمې پېړۍ څخه وروسته د شانګانو دولت مخ په ړنګېدو شو. او د چو کورنۍ د پیدایښت زمینه برابره شوه. د چو قبیلې مشر د (**او وانګ**) په نوم تر میلاد وړاندې لسمې پېړۍ کې د شانګانو دولت ته ماتې ورکړه.

د چو کورنۍ د امپراتورۍ په پراختیا کې ډېر زیار وویست. د خپلې شاوخوا سیمه ییزو حکومتونو ډېرې سیمې يې ونیولې تر اومې پېړۍ پخوا تر میلاده د هغوی واکمنۍ دوام درلود. د چو کورنۍ په وروستني دوران کې د هغوی تر واکمنۍ لاندې ځمکو کې تر یو زر زیات سیمه ییز حکومتونه جوړ شول چې په خپلو کې به هر وخت سره جنګېدل. په دې ترتیب د چو کورنۍ اولادونو د میلاد دمخه تر دوهمې پېړۍ پورې د چین په بېلا بېلو سیمو کې واکمني درلوده. د چو کورنۍ د واکمنۍ څخه وروسته د **تسه این** کورنۍ ته د واکمنۍ زمینه برابره شوه. هغوی د میلاده وړاندې د ۲۴۶ تر ۲۰۷ پورې د چو د امپراتورۍ په زیاتو سیمو واکمني ترلاسه کړه.

د (**هوان يې**) په نامه ددې لړۍ لومړني پاچا واک ترلاسه کړ. او نوي قوانین يې خپاره کړل. هغه چین په شپږ دېرش ولایتونو ووېشه. پخواني القاب يې له منځه یوړل. چیني ټولنه يې پر دوو برخو وویشله چې د **خواصو** او **عوامو** د طبقو په نامه یادېدلې. د پخوانیو او وروستیو **هانانو**کورنۍ د **تسه این** پر پاتې شوې امپراتورۍ تر ۲۲۰ میلادي کال پورې واکمني وکړه چې د چین په تاریخ کې د منځنیو پېړیو د دورې پیل پېژندل شوی دی.

## په ټولګي کې فعالیت:

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې په چین کې د ډېر پخواني انسان په اړه معلومات ورکړي او دوهمه ډله دې د چین د پخواني تاریخ د درې مهمو کورنیو په اړه خپل معلومات وړاندې کړي.

## پوښتنې:

۱. ولې په چین کې لرغوني ځېرني وروسته پیل شوې؟ په دې اړه خپل معلومات ولیکئ.

۲. د چین تر ټولو پخوانیو انسانانو چیرې ژوند کاوه؟

۳. د چین په پخواني تاریخ کې درې مهمې کورنۍ په لنډه توګه معرفي کړئ.

## د ټولګي څخه دباندې فعالیت:

زده کوونکي دې د چین او چیني توکو په اړه د خپلو مشرانو نه وپوښتي او خپل معلومات دې ټولګي کې و وایي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# ایا پوهېږئ چې پخواني یوناني تمدن څنګه پیل شو ؟



د لرغوني یونان یوه آبده

یوناني تاریخ لیکونکي توسیدیدس چې څلور پېړۍ پخوا تر میلاده یې ژوند کاوه باور درلود چې د پخوانیو کلیو او ښارونو پاتې شونې د هغو مخکنیو قومونو چې پخوا یې ژوند کاوه، د کارونو زېرنده دي، چې د خلکو ډېرې فولکلوریکې کیسې داستانونه او بحثونه په هغو پورې اړه لري. په نولسمې پېړۍ کې څېړنې او تحقیقات د پخوانیو یوناني خلکو او د مدیترانې د ځنډو د وګړو په اړه د داستانونو او څېړنو له مخې پیل شوي دي.

د (میسني) دوران د یوناني تمدن او پخواني کرت ځلانده تاریخ دی. دغه تمدن پخوا تر میلاده په شپاړسمې پیړۍ کې پیل شو او تر لسمې پېړۍ پورې یې دوام درلود. دغه تمدن د اخه یې تېر پورې اړه درلوده چې د (پلیپونیز) وګړو سره ونښتل او ډېرې سیمې یې ونیولې. هغوی بزګران وو. غنم، اوربشې او جوار یې کرل او د برونزو د وسایلو نه یې ګټه اخیستله. د ښارونو د دفاع لپاره به یې جګ دېوالونه جوړول. دا دوران له میلاده دمخه په لسمې پېړۍ کې د (دوریانو) د یرغل په پایله کې پای ته ورسېد.

دوریان لس پېړۍ پخوا تر میلاده پر لرغوني یونان هم واکمن شول. ځینې مؤرخین دغه دوره د اوسپنې د دورې پیل هم بولي. سره له دې چې دوریانو د کلتور پرمختګ ته پام نه درلود، خو هغه مشهورې حماسي کیسې چې د (**الیاد او ادیسه**) په نوم یادیږي په همدې دوره کې منځته راغلي دي. ړوند یوناني شاعر (**هومر**) دا حماسي داستانونه تنظیم کړي و و. دغو داستانونو له دولسمې نه تر اتمې پیړۍ پخوا تر میلاده زیاتي پېښې بیان کړي دي. د دوریانو د واکمنۍ سره جوخت په یونان کې د **اسپارتانو** د دولت بنسټ کېښودل شو. د لرغوني یونان د تمدن یوه ښکاره ځانګړتیا د ډېرو خدای ګوټو شتون و. چې د یوناني کیسو له لارې یې شهرت موندلی و.

په یونان کې د پراختیا غوښتني خوځښتونه له میلاد دمخه له شپږمې او پنځمې پیړۍ سره مصادف و. د **هلني** مهاجرینو د مهم مرکز بنسټ د شپږمې پیړۍ په اوله نیمایي کې د تورې سمندرګي په شمال کې کېښودل شو.

د پنځمې میلادي پېړۍ په وروستیو کې د **پارسیانو** او **یونانیانو** ترمنځ یو په بل پسې جګړې ونښتې. دغو جګړو تر ډېرې مودې دوام درلود. تر هغې پورې چې **مقدوني سکندر** له (۳۳۶ تر ۳۲۳ پخوا تر میلاده) پر **هخامنشیانو** بری ومونده او لویه امپراتوري یې منځته راوړه. وروسته له سکندر یوناني امپراتورۍ تجزیه شوه.

د یوناني امپراتورۍ د تجزیې پر مهال د رومي امپراتورۍ غوړېدو او پراختیا ته زمینه برابره شوه چې تفصیل به یې د روم مدنیت تر سرلیک لاندې ولولو.

## په ټولګي کې فعالیت:

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د توسیدیدس د نظریاتو په اړه معلومات وړاندې کړي او دوهمه ډله دې د هومر په اړه خپل معلومات بیان کړي.

## پوښتنې:

۱- توسیدیدس څوک و؟ خپل معلومات ولیکئ.

۲- میسینیانو څه ډول تمدن درلود؟ خپل معلومات ولیکئ.

۳- د دوریانو په اړه څه معلومات لرئ؟ ویې لیکئ.

## د ټولګي نه دباندې فعالیت:

هر یو زده کوونکی دې د سکندر د امپراتورۍ نقشه د خپلو معلوماتو پر بنسټ په خپلې کتابچې کې انځور او په ټولګي کې دې نورو ته وښایي.




(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



## آيا اوريدلي مو دي چي دپخواني روم امپراتورانو ته يې داروپا حکمرو آيان ويل؟



د لرغوني روم يوه مجسمه

په تېر درس کې مو ولوستل چې د يوناني امپراتورۍ تر پرزېدلو وروسته د روم امپراتورۍ د پراختيا لپاره زمينه برابره شوه.

لس پېړۍ وړاندې تر ميلاده د **روم** د شا او خوا يو شمېر مېشت قومونه سره يو شول چې د **لاتينيانو** په نوم يې شهرت وموند. دغو وګړو په وروستيو کې د **اتروسکايانو** سره يوځای شاهي نظام رامنځته کړ چې له ميلاده وړاندې تر **۵۰۹** کاله پورې يې دوام وکړ. همدې قومونو **۲۶۵** کاله پخوا تر ميلاد په روم کې د جمهوري نظام بنسټ کېښود، چې د واک درې څانګې يې درلودې:

۱- مشرانو مجلس.
۲- سنتوري يا سل کسيزه شورا.
۳- قبايلي جرګه.

روميانو تر ميلاد **۱۴۹** کاله پخوا يو ځل بيا د **يونان** پر مرکزي سيمو يرغل وکړ او د يونان **مقدوني** ښارېې تر خپلې واکمنۍ لاندې راوست او د **خپلې امپراتورۍ** د پراختيا لپاره له ميلاده **۱۳۳** کاله وړاندې د يونان له کرښو تېر شول او اوسنۍ ترکيه يې ونيوله. روميانو د لوېديځ پر لور هم پرمختګ درلود. په همغه کال يې **هسپانيا** هم په خپلې واکمنۍ کې شامله کړه. وروسته له هغه رومي امپراتوران د ځواک لوړو پوړيو ته ورسېدل.

نژدې دوه سوه کاله کې د روم د امپراتورۍ په سياسي او ټولنيز وضعيت کې ډېرې پېښې وشوې، بېلا بېل امپراتوران يو په بل پسې واک ته ورسېدل، چې د تر ټولو مشهورو امپراتورانو نومونه په جدول کې لوستلای شئ:

| | د واکمنۍ کلونه | د هغې دورې ځانګړتیاوې |
|---|---|---|
| سناتور سولا | له ۷۹ نه تر ۸۸ پخوا تر میلاده | جنګي دیکتاتور او امپراتور و، چې یوشمېر پاتریسانان یې ووژل. |
| درې کسیزه حکومت (سزار، پمپی او تراسوس) | له ۴۹ نه تر ۶۰ پخوا تر میلاده | د خبرو اترو په پایله کې دغې درې کسیزې ډلې ګډ حکومت جوړ کړ. چې د (تریوم ویرات) په نوم یادېده په دې موده کې سزار یوه مشهوره نجلۍ د کلوپاترا په نامه د مصر پر تخت کښېنوله. |
| دوهم درې کسیزه حکومت (مارک، انتوان او اکتایوس) | له ۴۳ پخوا تر میلاده تر ۲۷ پخوا تر میلاده | دغو درې واړو د سزار تر وژلو وروسته د دوو تنو پاتریسانو په وسیله واک په لاس کې ونیو. |
| مقدس امپراتور یا اکتایوس | له ۲۷ پخوا تر میلاده تر ۱۴ میلادي کاله پورې | د روم ځواکمن امپراتور شمېرل کېده. د هغه په زمانه کې د ایتالیا شاهي نوم په امپراتورۍ بدل شو. هغه ته یې د اګوست سزار لقب هم ورکړی و. |
| ژولن امپراتوران (تیبریوس، کالی کولا، کلودیوس او نرن حکومت) | له ۱۴ میلادي نه تر ۹۴ میلادي کاله پورې | دغه څلور واړه واکمنان د ژول سزار د کورنۍ څخه وو. چې د روم د امپراتورۍ په پراختیا کې یې لوی لاس درلود. |
| نیکوکاره امپراتوران (نروا، تراژن، هادریان، مارکوس او رولیوس) | د ۹۶ میلادي کال نه تر ۱۳۸ میلادي کاله پورې | د روم امپراتوران په دې موده کې د خپلې واکمنۍ لوړ پړاو ته رسېدلي وو. |

د روم وروستني امپراتور **مارکوس** او **رلوس** و. چې له ۱۶۱ تر ۱۸۰ میلادي کال پورې د روم پښړ واکمن و. وروسته د **کامودیوس** په نوم یو تن واک ته ورسید. کامودیوس فاسد او ناپوه سړی و. دده د واکمنۍ په دوران کې د روم د امپراتورۍ د راپرزېدلو زمینه برابره شوه.

له ۲۳۵ میلادي کال نه تر ۲۸۴ میلادي کاله پورې شل تنه رومي شاهان واک ته ورسېدل. ترڅو چې د روم امپراتورۍ په ۳۹۵ میلادي کال کې پر دوو برخو ووېشل شوه چې د ختیځ او لوېدیځ روم په نامه یاد شوي. چې په نورو بحثونو کې به یې ولولئ.

## په ټولګي کې فعالیت:

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د روم د لومړني جمهوریت په اړه معلومات وړاندې کړي او دوهمه ډله دې د روم د وروستني امپراتور په اړه بحث وکړي.

## پوښتنې:

۱. لومړنی رومي جمهوریت د کومو واکمنو مراجعو په وسیله اداره کېده؟ نوم یې واخلئ.
۲. رومیانو مقدونیه په کوم کال کې ونیوله؟
۳. د روم وروستني واکمن امپراتور څوک و؟ خپل معلومات د هغه په اړه ولیکئ.

## له ټولګي څخه دباندې فعالیت:


زده کوونکي دې د خپلو معلوماتو پر بنسټ د روم د امپراتورۍ نقشه په خپلو کتابچو کې ولیکي او په ټولګي کې دې نورو ته وښیي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شــلورم څپرکی



**د اسلام تاریخ**

- ایا پوهېږئ چې د اسلام مبارک دین د مخه د عربستان وضع څنگه وه؟
- د لوی څښتن د استازي حضرت محمد مصطفي (ص) له ژوند سره زيات اشنا شئ.
- ایا د اسلام د مبارک دین د لومړیو غزاگانو او سوبو په اړه معلومات لرئ؟
- ایا پوهیږئ چې د حضرت ابوبکر صدیق (رض) خلافت څرنگه پیل شو ؟
- د حضرت عمر فاروق (رض) د خلافت په اړه څه معلومات لرئ؟
- ایا د حضرت عثمان (رض) د خلافت د دوران د پېښو په اړه معلومات لرئ؟
- د حضرت علی کرم الله وجهه د خلافت دوران څرنگه تېر شو ؟
- ایا د امویانو د خلافت د پیل په اړه معلومات لرئ؟
- ایا پوهیږئ چې د امویانو خلافت څرنگه له منځه ولاړ ؟
- ایا پوهیږئ چې له امویانو نه عباسیانو ته واک څرنگه ولېږدول شو ؟
- د عباسیانو خلافت څرنگه راوپرځېد؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د څلورم څپرکي موخې

په دې څپرکي کې زده کوونکي له اسلامه د مخه د عربو په ژوند او حالاتو باندې پوهیږي؛ د اسلام د ستر نبي حضرت محمد مصطفي (ص) ژوند لیک لولي او زده کوي یې؛ همدارنګه د اسلام د مبارک دین د پیل دکلونو پر مهال له ټولنیزو سمونونو او غزاګانو سره اشنایي پیدا کوي؛ د راشدینو خلفاوو له دوران سره اشنا کیږي؛ د حضرت ابوبکر صدیق (رض) د دوران له پېښو خبریږي؛ د اسلام د دویم خلیفه حضرت عمر فاروق (رض) د زمانې پېښې او جریانات زده کوي؛ د حضرت عثمان (رض) د مهال له پېښو سره اشنا کیږي؛ سربېره پر دې د حضرت علی کرم الله وجهه د زمانې له پېښو خبریږي.
همدا راز اموي کورنۍ ته د واک د لېږد له څرنګوالي او د هغې دورې د مهمو خلفاوو په اړه معلومات ترلاسه کوي او د امویانو پر ضد د وګړنیزو پاڅونونو او د هغوی له راپرځېدو سره اشنا کېږي. سربېره پردې د عباسیانو د دورې د مشهورو خلفاوو له پرمختیا او ځوړتیا سره اشنایي پیدا کوي.

## ایا پوهیږئ چې د عربستان اوضاع د اسلام له مبارک دین څخه وړاندې څرنګه وه؟



د اسلام مبارک دین څخه وړاندې د اعرابو د مذهبي دودونو يو انځور

د اسلام د مبارک دين له راڅرګنديدو دمخه د **عربستان** وګړو او د نړۍ د ډېرو هېوادونو وګړو پر شرک او خرافاتو عقيده درلوده. تر اسلام وړاندې به په عربستان کې هرې قبيلې ځانته بت جوړاوه او د هغه عبادت به يې کاوه. او العياذ باالله هغه به يې خپل خدای ګاڼه. په خپلو عقيدو کې به يې موهوماتو او جادو ته ډېر ارزښت ورکاوه. په ټولیز ډول يې د بې باورۍ او بې عدالتۍ په حالت او د جهل او ناپوهۍ په چاپېريال کې ژوند کاوه.

پر يو بل يې اعتماد او باور نه درلود. له خپلو مړبانو سره يې غير انساني چلند درلود. ښځې يې له هر ډول انساني او بشري حقونو بې برخې کړې وې. يوشمېر کورنيو به نوې زېږېدلې نجونې ژوندۍ تر خاورو لاندې کولې.

د شتمنو او بډايو کسانو ترمنځ اخلاقي فساد دود و. جواري (قمار) او شراب څښل د اشرافو د زامنو ورځنۍ عادت شوي و. دوی د مال او شتو د لاس ته راوړلو لپاره هر ډول غيرانساني او غيراخلاقي عمل ترسره کاوه. قوانين يوازې او يوازې د زورواکو د حقونو د دفاع لپاره کارېدل. زورورو به قوانين رامنځ ته



(c) ketabton.com: The Digital Library

کول او هغه به یې د مظلومو او بېوزلو خلکو پر ضد کارول.

د قبایلو د مشرانو ترمنځ لاسلیک شوي تړونونه د هغې زمانې دوديز قوانین و. د قبایلو غړي مصؤن او خوندي و، او د لاسلیک شویو تړونونو پر بنسټ یې خپل حقونه ترلاسه کول. د قبایلو د غړو ترمنځ درنښت او ارزښت هم د تړونونو پر بنسټ و. هغو کسانو چې د قبیلې غړیتوب یې نه درلود له ټولو حقونو او امتیازاتو بې برخي و. ددې ډول خلکو پر مالونو او حقونو باندې تېرې جایز ګڼل کېده.

ددغو ټولو اخلاقي، ټولنیزو انحرافاتو، ناپوهیو، ظلمونو او نابرابریو د له منځه وړلو لپاره د اسلام مبارک دین د لوی څښتن (ج) له لوري د **نبي کریم حضرت محمد مصطفی (ص)** په واسطه د ځمکې د مخ ټولو انسانانو لپاره نازل شو. حضرت محمد (ص) خلک د لوی څښتن د وحدانیت د منلو په لور راوبلل. شرک او په خپل لاس د جوړو شو و بتانو عبادت یې منع کړ او د مسلمانانو ترمنځ یې ټولنیز باور، عدالت، برابري او ورورولي منځته راوړه.

د نجونو ژوندي ښخول او د هغوی پر انساني او ټولنیزو حقونو باندې تېري یې منع کړ. له مړیانو سره کړو وړو ته یې د هغوی په ګټه بدلون ورکړ. په عمومي توګه ویلای شو چې د اسلام مبارک دین یو الهي بشپړ دین دی، چې د لوی څښتن له لوري د ځمکې د مخ د ټولو انسانانو د اصلاح او روښانولو لپاره له حضرت محمد مصطفي (ص) لخوا ابلاغ شوی دی.

## په ټولګي کې فعالیت:

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې په عربستان کې د جهالت او ناپوهۍ د دوران په اړه بحث وکړي او دویمه ډله دې هغه تغیرات او سمونونه شرح کړي چې د اسلام د مبارک دین له خرګندېدو وروسته منځته راغلل.

## پوښتنې:

- په عربستان کې له اسلامه وړاندې هرې قبیلې ځانته ..... جوړاوه او د هغه عبادت به یې کاوه.
- د اسلام مبارک دین خلک ......... ته رابلل.
- اسلام د الله پاک یو بشپړ ........ دی.

## له ټولګي څخه بهر کړنې:

زده کوونکي دې د خپل جومات له ملا امام نه وپوښتي چې د اسلام مبارک دین تر نازلېدو راوروسته د انسانانو په ژوندکې کوم بدلونونه راغلي دي. تر لاسه شوي معلومات دې ټولګیوالو ته ووایي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د اسلام دستر پیغمبر حضرت محمد (ص) له مبارک ژوند سره بنه آشنا شئ (له ۵۷۱ نه تر ۶۳۴ زېږیز (میلادي) کال پورې)



په مدینې منورې کې د نبوي جومات یو انځور

د بشري تولنې ستر لارښود **حضرت محمد مصطفیٰ** (ص) د **عبدالله** زوی د **عبدالمطلب** لمسی و. په **۵۷۱** زکال کې یې نړۍ په خپل ولادت سره منوره کړه. د ده مبارکه مور **بي بي امنه** او رضاعي مور یې **بي بي حلیمه** (رض) نومېده.

د حضرت نبي کریم (ص) پلار ده له تولد څخه دمخه وفات شوی دی، په شپږ کلنۍ کې یې مور وفات شوه او په اته کلنۍ کې یې نیکه هم له لاسه ورکړ. له دې وروسته ده پالنه د ده تره ابو طالب په غاړه شوه.

حضرت نبي کریم (ص) په پنځه وېشت کلنۍ کې له **بي بي خدیجې** (رض) سره، چې یوه پتمنه او عزتمنه میرمن وه، واده وکړ. په اسلامي نړۍ کې دا لومړنۍ میرمن وه چې ایمان یې راوړ او د اسلام په مبارک دین مشرفه شوه.

د حضرت رسول اکرم (ص) د کابو ټولو اولادونو مور همدا بي بي خدیجه (رض) وه. یوازې **حضرت ابراهیم** د نبي کریم (ص) هغه زوی و چې مور یې **بي بي ماریه قبطیه** (رض) نومېده.

د حضرت محمد مصطفي (ص) په ژوند کې په پیغمبرۍ باندې تر بعثت دمخه ډېرې مهمې پېښې وشوې چې له امله یې د هغه حضرت محمد (ص) لوړ شخصیت د مکې او عربو خلکو په منځ کې غوره او لوړ شو.

د حضرت نبي کریم (ص) ربښتینولي او امین توب د دوی په شریفانه ژوند کې ددې لامل وګرځید چې حضرت بي بي خدیجه (رض) یې د خپلو سوداګریزو چارو د سمون لپاره غوره کړي. په مکې کې د کعبې




(c) ketabton.com: The Digital Library

شریفې په دېوال کې د **حجرالاسود** د ډېرې ښېرته اېښودل او ځای په ځای کول هغه بله پېښه ده چې حضرت رسول کریم (ص) ته یې د یوه ډېر مدبر شخصیت په توګه شهرت ورکړ.

د حجرالاسود د ډېرې د بیا ځای په ځای کولو په اړوند د عربو دوه قومونه یوې لویې شخړې ته سره نږدې شوي و. خو حضرت رسول اکرم (ص) په خپلې ځانګړې پوهې او خاص تدبیر سره دغه لانجه حل کړه. د حجرالاسود ډېره یې په یوه ستر ځادر کې کېښوده او د ښکېلو قومونو مشرانو ته یې لارښوونه وکړه چې هغه له څلورو خواو و (پيڅکو) څخه ونيسي او له ځايه یې اوچته کړي بیا په خپله حضرت نبي کریم (ص) دغه مبارکه ډېره له څادر څخه راواخیسته او د دېوال په ټاکلي ځای کې یې کېښوده چې په دې توګه د دوو لویو قومونو ترمنځ د لویې لانجې مخنیوی وشو.

د حضرت محمد مصطفی (ص) سپېڅلي شجره




حضرت محمد مصطفیٰ (ص) څلوېښت کلن و چې په نبوت مبعوث شو دغه ستر امانت د لوی څښتن له لورې د حضرت **جبرائیل امین** (ع) په وسیله دوی ته ورسول شو.

حضرت محمد مصطفی (ص) د اسلام مبارک دین ته د بلنې په لومړیو کلونو کې زیاتې ستونزې وګاللې. خو له دې ټولو سره سره یې پر ته له ځنډه د اسلام مبارک دین په خپرېدو کې پرله پسې زیار ویست. د نارینه وو له ډلې څخه حضرت **ابو بکر صدیق** (رض) او د ځوانانو له ډلې حضرت **علي کرم الله وجهه** لومړني اشخاص وو چې د اسلام په مبارک دین مشرف شول.

حضرت محمد مصطفیٰ (ص) په ۶۲۱- ۶۲۲ ز کال کې له مکې معظمې څخه مدینې منورې ته هجرت وکړ چې بیا همدغه هجرت د اسلامي نېټې د تاریخ پیل وګرځېده.

حضرت محمد مصطفیٰ (ص) په ۶۳ کلنۍ کې هغه مهال چې له **حجة الوداع** څخه راستون شو له لږې مودې وروسته یې له دې فاني نړۍ رحلت وکړ.

## په ټولګي کې فعالیت:

زده کوونکي دې په دوو ډلو وویشل شي لومړۍ ډله دې د حضرت محمد (ص) د شجرې او کورنۍ په اړه او دویمه ډله دې د اسلامي نړۍ د لومړنیو مسلمانانو په اړه بحث وکړي.

## پوښتنې:

- حضرت جبرائیل (ع) د خدای (ج) له لورې حضرت محمد (ص) ته څه پیغام راوړ؟
- حضرت محمد (ص) څو کلن و چې په پیغمبرۍ مبعوث شو؟
- د حضرت محمد (ص) د شجرې په اړه څه معلومات لرئ ویې لیکئ؟

## له ټولګي څخه بهر کړنې:

زده کوونکي دې د خپلې سیمې له ملا امام څخه د حضرت محمد (ص) د ژوند او اخلاقي ښېګڼو په اړه معلومات تر لاسه کړي او خپلو ټولګیوالو ته دې وړاندې کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## ایا د اسلام د صدر د غزاگانو او فتوحاتو په اړه معلومات لرئ؟



د غزاگانو یو رسم شوی انځور

د لوی څښتن د حکم او د حضرت محمد مصطفیٰ (ص) د پرله پسې بلنې له امله د مکې معظمې او مدینې منورې ډېر شمېر وګړي د اسلام په مبارک دین مشرف شول د اسلام مبارک دین له یوې ورځې څخه بلې ته پیاوړی کېده.

مشرکینو هڅه کوله چې د اسلام د دین د پرمختګ مخنیوی وکړي. ډول ډول خنډونه یې رامنځته کول. له مسلمانانو سره یې اړیکې پرې کړې. د مسلمینو کورونه یې محاصره کړل او هم به یې مسلمانان په یوازې او ډله ییزه توګه ځورول. ددغه ډول بندیزونو او ګواښونو سره سره بیا هم خلکو له یوې ورځې نه بلې ته اسلام ته مخه کوله. مسلمانان دومره زبات شول چې نور یې د ځانه دفاع کولای شوای او هم یې دا توان وموند چې د مشرکینو د تېري د مخنیوي په منظور د غزاګانو ډګر ته ودانګي. یو شمېر غزاګانې پېښې شوې چې په لنډه توګه یې د څو یادونه کوو.

### د بدر غزوه:

د مسلمانانو او مشرکینو ترمنځ لومړنۍ غزا د بدر په نامه یاده شوې ده. دا غزا د هجرت په دویم کال مدینې ته نږدې د بدر په سیمې کې پېښه شوه چې مسلمانان پر مشرکینو بریالي شول. دا د جګړې په ډګر کې د مسلمانانو په ګټه لومړنۍ سوبه او فتح شمېرل کېږي. که څه هم په دې جګړې کې د مسلمانانو شمېر ۳۱۳ تنه او د مشرکینو شمېر کابو ۱۰۰۰ تنو ته رسېده او یوه نابرابره جګړه وه، خو د لوی څښتن (ج) په مرسته مسلمانان بریالي شول.

### د احد غزا:

د احد غزا د مسلمانانو یوه مشهوره غزا ده. دغه غزا په دریم هجري کال کې پېښه شوې، چې له امله یې د مکې مشرکینو ته ډېره مرګ ژوبله اوښتې وه. بله غزا چې د حضرت محمد رسول الله (ص) په ژوندکې پېښه شوې ده د



(c) ketabton.com: The Digital Library

**خندق** په نامه يادېږي. په دې غزا کې مشرکينو په يرغلونو پيل وکړ. خو هېڅ ډول بريالیتوب يې ترلاسه نه کړ. دغه غزا په او وم هجري کال کې واقع شوه.

د مسلمانانو او مشرکينو ترمنځ يوه بله مهمه غزا د **موته** غزا وه چې په ا تم هجري کال کې پېښه شوه. په دې غزا کې حضرت **خالد بن وليد** (رض) ډېر ارزښتمن رول ولوباوه.

## د مکې معظمې فتح:

د مسلمانانو يوه ډېره ستره بريا همدا د **مکې معظمې** فتح وه، چې په اتم هجري کال کې پېښه شوه. له شک پرته مسلمانان پر مشرکينو برلاسي و. ځکه نو مشرکينو د ډار احساس کاوه. په دې وخت کې حضرت محمد مصطفیٰ (ص) وويل: هرڅوک چې په کور کې وي او ور يې تړلی وي په امان کې دی. هرڅوک چې مسجد الحرام ته پناه يوسي په امان کې به وي او هرچا چې د **ابوسفيان** (رض) کور ته پناه يوړه په امان کې به پاتې شي. په دې ډول مسلمانان بې له کوم جنګ څخه د مکې معظمې سيمې ته ورننه شول او لوبه سوبه يې په نصيب شوه.

## د حُنين غزا:

دا غزا د مسلمانانو له ډېرو سترو غزاګانو څخه ګڼل کېږي. په دې غزا کې د مسلمانانو له لوري دولس زرو تنو ګډون کړي و، په داسې حال کې چې د مشرکانو شمېره څو چنده ډېره وه. د لوی څښتن (ج) د مرستې په برکت مشرکين په دې غزا کې هم له سختې ماتې سره مخامخ او مسلمانان بريالي شول.

**د حجة الوداع** پر مهال حضرت محمد مصطفیٰ (ص) مسلمانانو ته د حج شرايط او مراسم ورزده کړل او د جاهليت د زمانې ټول کره وړه او تړونونه يې لغو او منع اعلان کړل. د مسلمانانو د يوشمېر غزاګانو او برياليتوبونو له امله د مسلمانانو په ټولنيز او سياسي ژوند کې مناسب او وړ شرايط منځته راغله. د حضرت محمد مصطفیٰ (ص) له رحلت نه د مخه د اسلام د مبارک دين نفوذ د مکې، مدينې او د عربي ټولنې په سيمو او ښارونو کې خپور شو. او د **جزيرة العرب** يو والي يې رامنځته کړ. دغو برياليتوبونو د نړۍ په کچه د يوه پياوړي او ځواکمن اسلامي حکومت د رامنځته کېدلو بنسټ کېښود، چې په راتلونکو لوستونو کې به يې ولولئ.

### په ټولګي کې فعاليت:

زده کوونکي دې په دوو ډلو وويشل شي. لومړۍ ډله دې د مسلمانانو پر وړاندې د مشرکينو د ناوړه کړو وړو په اړه معلومات وړاندې کړي او دويمه ډله دې د مسلمانانو د غزاګانو په باره کې خپل معلومات ووايي.

### پوښتنې:

۱- تاسو وواياست چې د اسلام مبارک دين د خپرېدلو په پيل کې دکفارو او مشرکينو کړه وړه د مسلمانانو په وړاندې څنګه وو؟

۲- دمسلمانانو او مشرکينو ترمنځ لومړنۍ غزا..........نومېده.

۳- دمشرکينو په وړاندې دمسلمانانو د څو غزاګانو نومونه واخلئ.

### له ټولګي څخه بهر فعاليت:

زده کوونکي دې د خپلې سيمې د جوماتونو له ملا امامه څخه د غزاګانو په اړه پوښتنې وکړي او بيا دې خپل دغه معلومات په ټولګي کې خپلو ټولګيوالو ته واوروي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# ایا پوهیږئ چې د حضرت ابوبکر صدیق (رض) خلافت څرنګه پیل شو ؟




د ثور سموڅه
هغه ځای چې حضرت محمد(ص) او حضرت ابوبکرصدیق (رض) د مشرکینو څخه پناه وروړې وه.

د **حضرت ابوبکر صدیق** (رض) نوم عبدالله و. حضرت رسول اکرم (ص) هغه ته د **صدیق** لقب غوره کړ. د جاهلت په دورې کې یې نوم **عبدالکعبه** و. له **عام الفیل** نه دوه کاله وروسته په **مکه** کې نړۍ ته راغی. د ده شجره په شپږم نیکه کې حضرت نبي کریم (ص) ته رسیږي. د حضرت محمد مصطفیٰ (ص) له رحلت نه وروسته د کډوالو او کوربنو (**مهاجرو او انصارو**) د یوې پراخې او عامې غونډې له لارې د اسلامي خلافت مقام د لومړني خلیفه په توګه غوره شو. دی د **راشدینو خلفاوو** له ډلې څخه لومړنی خلیفه و چې له یو ولسم نه تر دیارلسم هجري کاله پورې د خلیفه په توګه د مسلمانانو په چوپړ کې و. حضرت ابوبکر صدیق (رض) له غوره کېدو وروسته په خپلې لومړنی وینا کې چې د مسلمانانو غونډې ته یې وکړه وویل: ((اې خلکو! تاسو چې زه د خلیفه په توګه غوره کړم. زه له تاسو نه څه ځانګړې لوړتیا نلرم. که ما ښه کارونه کول له ما سره ملتیا وکړئ او که بد کارونه مې کول منع مې کړئ. ستاسو ځواکمن زما په وړاندې ضعیف او ستاسو ضعیف ماته پیاوړی دی. په هر قوم کې چې ناوړه کارونه دود شي په بلاګانو اخته کېږي.))

حضرت ابوبکر صدیق (رض) د خپل امارت په دوه کلنې دورې کې د ځینو قامونو د **ارتداد** مخه ونیوله. په دې مهال کې ځینو مرتدینو د نبوت دعوا وکړه. چې له دې ډلې کولای شو د **مسیلمه کذاب** نوم واخلو.

کذاب مسیلمه د حضرت ابوبکر صدیق (رض) له خوا ووژل شو. او دده منونکي بېرته د اسلام مبارک



(c) ketabton.com: The Digital Library

دین ته راوګرځېدل.
حضرت ابوبکر صدیق (رض) مرتدانو ته په دې ټکو کې پیام واستاوه:((د بښونکي او مهربان لوی څښتن په نامه!
د لوی څښتن او د هغه د ستر استازي د خلیفه له لوري د ابوبکر پیغام هر چا ته خاص دي، که عام مسلمین دي، که مرتدین. درود دې وي پر هغه چا چې د هدایت په لاره روان دی او له هدایته وروسته یې تیارې او ړندو لارو ته مخه نه ده کړې. زه واحد څښتن تعالی (ج) ستایم. او وایم چې له هغه نه پرته بل خدای نشته او حضرت محمد (ص) د هغه بنده او استازی دی. په هغه څه چې راوړي یې دي او نازل شویدي ایمان لرم او هرڅوک چې له منلو یې ډډه کوي، هغه کافر بولم او په وړاندې یې جهاد کوم.)) او ددې پیام په یوې برخې کې راغلي دي چې: (امابعد لوی څښتن جل جلاله په حقه سره حضرت محمد (ص) د خلکو د اصلاح لپاره واستاوه. چې ډاروونکی او زیری ورکوونکی وی. د الله پاک په اراده او غوښتنې سره خلک د هغه لور ته راوبولي او ټول انسانان له الله جل جلاله څخه وویروي لوی څښتن (ج) د هغه چا لاره سمه کړه چې د حضرت رسول کریم (ص) بلنه یې ومنله. او حضرت نبي کریم (ص) هغه وګړي چې له ده څخه یې مخ اړولي و. بیرته اسلام ته راواړول.
وروسته حضرت رسول اکرم په داسې حال کې چې د رب العزت امر یې پر ځای کړ خپل امت ته یې نصیحت وکړ او د لوی څښتن له لوري یې خپله دنده هغسې چې ښایي ترسره کړه او له دې فاني نړۍ څخه یې رحلت وکړ ...)
حضرت ابوبکر صدیق (رض) هغه وګړي چې د زکات د فریضې له اداکولو څخه یې ډډه کوله هم اصلاح کړل. د مسلمانانو د حاکمیت سیمه دحضرت ابوبکر صدیق (رض) د خلافت په دوران کې شام (اوسنۍ سوریې) او عراق ته ورسېده د **بین النهرین** د نیولو لپاره یې د **حضرت خالد بن ولید (رض)** تر مشرۍ لاندې یو لښکر واستاوه. او هغه سیمې یې هم د اسلامي حاکمیت په ولکې کې راوستې. د مسلمانانو د حاکمیت د سیمو په پراخولو کې حضرت خالد بن ولید (رض) ډېره ستره او د قدر وړ ونډه درلوده.
د حضرت ابوبکر صدیق (رض) د خلافت دوره دوه کاله او څو میاشتې وه او په دیارلسم هجري کال کې وفات شو.

### په ټولګي کې فعالیت:

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د حضرت ابوبکر صدیق (رض) د خلافت د پیل په اړه څرګندونې وکړي او دویمه ډله دې د حضرت ابوبکر صدیق (رض) د لومړنۍ وینا په اړه خپل معلومات وړاندې کړي.

### پوښتنې:

- د حضرت ابوبکر صدیق (رض) د خلافت د دورې په اړه څه معلومات لرئ؟ وې لیکئ
- د حضرت ابوبکر صدیق (رض) د لومړنۍ وینا په اړه خپل معلومات ولیکئ.
- د ابوبکر صدیق (رض) د خلافت په دوران کې کومې سیمې د مسلمانانو تر ولکې لاندې راغلې؟


### له ټولګي څخه بهر فعالیت:

زده کوونکي دې له خپل ملا امام څخه د اسلام د لومړني خلیفه حضرت ابوبکر صدیق (رض) د ژوندانه په اړه نور معلومات ترلاسه کړي او هغه دې په ټولګي کې زده کوونکو ته ووایي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## دحضرت‌عمرفاروق(رض) دخلافت‌په‌اړه‌معلومات‌لرئ؟




بصره، د هغو ښارونو څخه ده چې د حضرت عمر فاروق(رض) د خلافت په دوره کې ودانه شوله

د حضرت ابوبكر صديق (رض) تر وفات وروسته، د خلافت دنده **حضرت عمر فاروق** (رض) ته ورسېده. نوموړی د مدينې منورې د ټولو مېشتو وګړو (انصارو او مهاجرينو) له خوا په يوه خوله او اتفاق د مسلمانانو په خلافت وټاكل شو. حضرت عمر فاروق بن خطاب (رض) د فجارو له جګړې نه څلور کاله د مخه په مكې مكرمې كې نړۍ ته راغي. دده شجره **كعب بن لوی** قريشي او بيا د **بني عدي** طايفې ته رسېږي. په ماشومتوب كې يې د خپل پلار پسونه پووول. د جاهليت په دوره كې يې د قريشو د استازي په توګه د خپل منځي نښتو د له مينځه وړلو لپاره د يوه مصلح او سفير په توګه دنده ترسره كوله. په فصاحت او بلاغت كې يې ثاني نه درلود. له همدې امله يې په عربو كې ډېر نېک او ښه شهرت درلود. د حضرت رسول اكرم (ص) د بعثت نه شپږ كاله وروسته د اسلام په مبارک دين مُشرف شو. او د حضرت نبي كريم (ص) له ډېرو نژدې يارانو څخه و. كله چې د حضرت ابوبكر صديق (رض) ناروغي شدت وموند. نو مسلمانانو د يوه خليفه په فكر كې شو. په دې اړه يې له يو هو خلكو او له خپلو دوستانو څخه د حضرت عمر فاروق (رض) په اړه پوښتنې كولې. ټولو له ځه هيلې او غرضه پرته د زړه له كومې په رښتيني توګه حضرت فاروق (رض) تائيداوه. يوه ورځ يې په همدې اړه له حضرت عثمان (رض) څخه وپوښتل. ده په ځواب كې وويل: تاسو له موږ ټولو څخه ډېر د حضرت عمر (رض) په اړه معلومات لرئ او ښه يې پېژنئ، سختګير دی خو باطن يې له ځرګندې بڼې ډېر ښه دی. په موږ كې له عمر (رض) نه بل ډېر ښه څوک نشته.

د حضرت ابوبکر صدیق (رض) له وصیت سره سم د خلافت چارې حضرت عمر فاروق (رض) ته وسپارل شوې. په وصیت پاڼه کې راغلي و د ښېبونکي او مهربان خدای(ج) په نامه:

ما عمر بن خطاب(رض) پر تاسو امیر وټاکه. که چیرې یې نیکي وکړه او دباور او عدالت پر لارې ولاړ، دا هغه څه دي چې زه د هغه په اړه پوهېږم. او هغه فکر دی چې د هغه په اړه یې لرم. او که چیرې یې ظلم وکړ، حق ته یې بدلون ورکړ، زه په غیب نه پوهېږم زما نیت ښه دی او د هر چا چلند په هغه پورې اړه لري او هغوی چې تېری او ناروا کوي، پوه به شي چې پایله یې څه ده.

## د مسلمانانو سوبې دوام مومي:

د حضرت ابوبکر صدیق (رض) له وفات نه وروسته حضرت عمر فاروق (رض) د اسلام دوویم خلیفه په توګه د چارو واګې په لاس کې واخیستې. د مسلمانانو فاتح لښکر د حضرت ابوبکر صدیق (رض) په زمانه کې تر **عراق** او د **ساسانیانو** د دولت تر پولو پورې ورسېد. د حضرت عمر فاروق (رض) د خلافت په دوران کې د ایران وضع مغشوشه او متزلزله شوې وه تر هغه وروسته چې رومیانو د جنادین په جګړې کې ماتې وخوړه، د مسلمانانو ځواکونه د ایران پر لور وخوځېدل. د ایران د جګړې لپاره د مسلمانانو د ځواکونو مشر **حضرت سعد بن ابي وقاص (رض)** وټاکل شو. هغه په **قادسیې** کې له ایراني پوځونو سره مخامخ شو او هغوی ته یې سخته ماتې ورکړه. د قادسیې او جلولا له سوبو نه وروسته حضرت سعد بن ابي وقاص د کوفې د ښار د جوړېدو بنسټ کېښود.

له یو بې مودې وروسته د **مداین** ښار، چې **دریم یزدګرد** یې دفاع کوله، د مسلمانانو په لاس فتح شو. ساساني دریم یزدګر تیښتې ته مخه کړه. دغو جګړو څلور کاله دوام وموند چې په پای کې د **نهاوند** ښار د مسلمانانو لاس ته ورغی. مسلمانانو په دغې سوبې باندې **فتح الفتوح** نوم کېښود. له دې جګړې وروسته یزدګرد **خراسان** ته تېښته وکړه او په یو دېرشم هجري کال کې د یوه خراساني ژرنده ګر لخوا ووژل شو.

لنډه دا چې د حضرت عمر فاروق (رض) د خلافت په لس نیمو کلو کې ډېرې ځمکې د مسلمانانو له خوا فتح شوې، چې پراخوالي یې د **مصر** له لوېدیځې برخې څخه نیولې بیا د **افغانستان** تر ختیځو برخو پورې رسېده. ددې دورې یوه بله مهمه چاره دا وه چې د مسلمانانو تاریخ د حضرت نبي کریم (ص) له هغه هجرته پیل شو چې له مکې نه یې د لومړي ځل لپاره په دایمي توګه هجرت وکړ. حضرت عمر فاروق (رض) د هجرت په ۲۳ کال کې د یوه مړیي له خوا چې **ابولوءلوء** نومېده، د لمانځه د ادا کولو په حال کې په شهادت ورسېد. د ده د خلافت په دوره کې مسلمه امت له فوق العاده سوکالۍ او عدالت څخه برخمن و.

### په ټولګي کې فعالیت:

زده کوونکي دې پر دوو ډلو وویشل شي. لومړۍ ډله دې د حضرت عمر فاروق (رض) د ژوندانه په اړه معلومات ورکړي او دوېمه ډله دې د هغې دورې د فتوحاتو په اړه معلومات ورکړي.

### پوښتنې:

- حضرت عثمان (رض) د حضرت عمر فاروق په اړه حضرت ابوبکر صدیق (رض) ته څه وویل؟
- حضرت ابوبکر صدیق (رض) په خپل وروستني وصیت لیک کې څه لیکلي و؟
- د فتح الفتوح په اړه څه معلومات لرئ؟ وې لیکئ.


### له ټولګي څخه بهر فعالیت:

زده کوونکي دې د حضرت عمر فاروق (رض) د اخلاقو او فضایلو په اړه د خپلو ملا امامانو څخه پوښتنې وکړي او خپل معلومات دې په ټولګي کې ووايي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## ایا د حضرت عثمان (رض) د خلافت د دورې د پېښو په اړه معلومات لرئ؟



د قرآن عظیم الشان یوه پاڼه

**حضرت عثمان** (رض) **د عفان** زوی، او له **عام الفیل** نه پنځه کاله د مخه په **مکې مکرمې** کې زېږېدلی دی. د سخاوت ساری یې نه و او د یوه رحیم او مهربان شخصیت څښتن و. د حضرت ابوبکر صدیق (رض) په واسطه د اسلام مبارک دین منلو ته وبلل شو، او مسلمان شو.

هغه شتمن و او خپله شتمني یې د اسلام په لاره کې وکاروله. د **بدر** له غزا **څخه** پرته په ټولو غزاګانو کې یې ګډون وکړ. د حضرت عمر فاروق (رض) له شهادته څخه وروسته د مسلمانانو له مشورې سره سم په **۲۳ هجري** کال کې د اسلام د دریم خلیفه په توګه وټاکل شو. د حضرت عثمان (رض) د خلافت په دورې کې د **ترکیې** زیاتې برخې او د **افریقې** ځینې برخې په اسلامي واکمنۍ کې شاملې شوې. دغه راز په دې دوره کې د **همدان، سکندریې** او **اذربایجان** بغاوتونه غلي کړای شول. د همدې خلیفه په وخت کې د **حضرت معاویه** (رض) په مشرۍ د سمندري ځواک تر نامه لاندې د سرتېرو یو ځانګړي ځواک رامنځته شو.

حضرت عثمان (رض) په خپل یوه لیک کې د وسله والو پوځونو مشرانو ته د عدالت او ولس سره د کړو وړو په اړه داسې ولیکل: ((لوی څښتن (ج) خلک په حق سره پیدا کړي او له حقه پرته نور



(c) ketabton.com: The Digital Library

څه نه مني. حق واخلئ او حق ورکړئ، امانت مه خيانتوئ، د امانت بند مه شلوئ، که نه د هغو کسانو په ګناه کې به شريک اوسئ چې له تاسو وروسته په همدې لاره ځي. په عهد او تړون وفا وکړئ. په يتيم او په هغه چا چې له تاسو سره په تړون کې شريک او ګډ دی، ظلم او ناروا مه کوئ. هر څوک چې پر يتيم او شريک ظلم وکړي لوی څښتن (ج) د هغه دښمن دی.

**د قرانکريم ټولونه:**

د حضرت عثمان (رض) د خلافت د مهال له ډېرو سترو کارونو نه يو هم د قران عظيم الشان ټولونه وه. قران شريف د ۲۳ کلو په اوږدو کې د وخت د غوښتنې له مخې پر حضرت محمد (ص) نازل شو. د قران کريم مبارک ايتونه به اصحابو کرامو خپلو حافظو ته سپارل او يا به يې د ونو په پوستکو يا هډوکو باندې ليکل. د مسلمانانو او کفارو ترمنځ له څو غزاګانو او جګړو وروسته يوشمېر قاريان په شهادت ورسېدل. ځکه نو دا اړتيا محسوسه شوه چې قرانکريم راټول او تدوين شي.

د حضرت ابوبکر صديق (رض) د خلافت په دوره کې قرانکريم د مصحف په توګه ټول کړل شوي و، خو د حضرت عثمان (رض) د خلافت په دوران کې قران شريف په کامل صورت د راويانو په واسطه د **حضرت زيد بن ثابت (رض)** تر نظر لاندې چې د وحې د کاتبانو له ډلې و، په پوره ځيرتيا راټول او وليکل شو.

له نورو نسخو سره له مقابلې څخه وروسته حضرت عثمان (رض) حکم وکړ چې ټولې پخوانۍ نسخې دې له منځه يوړلې شي.

حضرت عثمان (رض) په اوياکلنۍ کې په خلافت وټاکل شو. او د خلکو د ارامۍ او سوکالۍ لپاره يې ډيرې هڅې وکړې. حضرت عثمان (رض) دولس کاله خلافت وکړ او په ۳۶ هجري کال په داسې حال کې چې د پاک قران په تلاوت لګيا و. د يوه تن باغي له خوا په شهادت ورسېد.

**په ټولګي کې فعاليت:**

زده کوونکي دې په دوو ډلو وويشل شي لومړۍ ډله دې د حضرت عثمان (رض) د شخصيت په اړه بحث وکړي او دويمه ډله دې د هغې دورې د سترو کارونو په اړه معلومات ورکړي.

**پوښتنې:**

- د حضرت عثمان (رض) د شخصيت په اړه څه معلومات لرئ؟ ويې ليکئ.
- پاک قران د اسلام د کوم خليفه په وخت کې راټول شو ؟
- حضرت عثمان (رض) څو کاله خلافت وکړ ؟

**له ټولګي څخه بهر فعاليت:**

زده کوونکي دې د خپل چاپيريال له ملا امامانو څخه د اسلام د دريم خليفه په اړه معلومات راټول او هغه دې په ټولګي کې خپلو ټولګيوالو ته ووايي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د حضرت علی کرم الله وجهه خلافت څرنګه تېر شو ؟



دکوفي جومات
د حضرت علي (کرم الله وجهه) د خلافت مرکز

**حضرت علی کرم الله وجهه د ابي طالب** زوی، **د عبدالمطلب** لمسی، **د بني هاشم** له قبیلې او **د قریشو** له قام څخه و. سرېبره پر دې چې د حضرت محمد مصطفی (ص) د تره زوی و، د هغه زوم هم و. له هجرته یو وېشت کاله د مخه په مکې مکرمې کې وزېږېد. د قحطی په کال کې حضرت علی کرم الله وجهه د یوې مودې لپاره له حضرت نبي کریم (ص) سره و. وروسته له هغې چې حضرت رسول اکرم (ص) په نبوت مبعوث شو، حضرت علی کرم الله وجهه لس کلن و چې د اسلام په مبارک دین مشرف شو.

حضرت علی کرم الله وجهه د خلکو ترمنځ په عدل، باور، انصاف او ذکاوت مشهور و. هغه وخت چې مشرکینو د حضرت محمد مصطفي (ص) پر کور یرغل وکړ، هغه مهال حضرت علی کرم الله وجهه د حضرت نبي کریم(ص) د خوب پر تخت ویده شو او په دې ترتیب مشرکین خپلې هیلې ته ونه رسېدل.

د حضرت عثمان (رض) له شهادت څخه وروسته په **۳٦** هجري کال کې د مسلمانانو د یوې غونډې د پریکړې پر بنسټ د اسلامي نړۍ د خلیفه په توګه غوره او وټاکل شو. دی د ځینو مسلمانو مشرانو له خوا د یو لړ زیاتو ستونزو او مخالفتونو سره مخامخ شو. د همدغو مخالفتونو په پایله کې د مسلمانانو ترمنځ دوه جنګونه پېښ شول، چې یو یې **د جمل** او بل یې **د صفین** په نامه یاد شوي دي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

**د جمل جګړه:**
دغه جنګ په **بصرې** کې پېښ شو. په دې جنګ کې **بي بي عایشې** (رض) د حضرت محمد مصطفی (ص) مطهرې مېرمنې هم ګډون کړی و. په دې جګړه کې بي بي عایشه (رض) په اوښ سپره وه، نو ځکه یې دغه جګړه جمل یا اوښ نومولې ده.

**د صفین جګړه:**
دغه جګړه د **صفین** په سیمې کې د حضرت علی کرم الله وجهه او حضرت **معاویه** (رض) ترمنځ په او ه دېرشم هجري کال کې پېښه شوه، او وه ورځې یې دوام وکړ. له هغه وروسته جګړه سړه شوه او دوه تنه د خبرو اترو لپاره وټاکل شول. حضرت علی کرم الله وجهه حضرت **ابوموسی اشعري** (رض) د خپل استازي په توګه وټاکه او د حضرت معاویه (رض) له خوا **عمرو بن العاص** (رض) غوره شو. د خبرو اترو په پایله کې دواړه لوري په دې سلا شول چې حضرت علی کرم الله وجهه او حضرت معاویه (رض) دواړه له واکه لرې شي او په عوض یې یو دریم تن د مسلمانانو له خوا د خلافت لپاره وټاکل شي. حضرت عمرو (رض) حضرت ابو موسی اشعري (رض) ته و ویل چې ولاړ شه او دغه پرېکړه اعلان کړه. حضرت ابو موسی (رض) راغی او پرېکړه یې داسې اعلان کړه.
موږ پرېکړه وکړه چې حضرت علی کرم الله وجهه او حضرت معاویه (رض) دواړه له واکه لرې کو و. تاسې مسلمانان له خپله منځه یو بل څوک د خلافت لپاره غوره کړئ. له حضرت ابو موسی اشعري (رض) وروسته عمرو (رض) په خپل ځای ودرېد او ویې ویل:
اې خلکو تاسو واورېدل. چې حضرت ابو موسی اشعري (رض) خپل یار لرې کړ. زه هم د هغه یار لرې کوم او د هغه پر ځای معاویه خلافت ته منصوبوم. په دې توګه د حضرت معاویه (رض) پلویانو خبرې اترې د ځان په ګټه اعلان کړې.

**د خوارجو څرګندېدل:**
دا یوه بله پېښه ده چې د صفین له جګړې څخه وروسته واقع شوه. **خوارج** سیاسي عقیدتي ډله وه چې د اسلام په سیاسي او ټولنیز تاریخ کې یې ونډه درلوده. دوی د حضرت علی کرم الله وجهه له پلویانو څخه و، او پر هغه ترون یې نیوکه (اعتراض) درلوده چې حضرت علی کرم الله وجهه له حضرت معاویه (رض) سره د خبرو اترو لپاره کړې و. دوی له دې نیوکې څخه وروسته د حضرت علی کرم الله وجهه دیارانو له ډلې څخه ووتل او په همدې بنسټ په خوارج معروف او مشهور شول.
حضرت علی کرم الله وجهه په عمومي توګه پنځه کاله د مسلمانانو خلافت وکړ. د هجرت په څلوېښتم کال د خوارجو د طایفې دیوه تن له لوري چې **عبدالرحمن بن ملجم** نومېده، ټپي او دوه ورځې وروسته د همغو ټپونو له امله په شهادت ورسېد. او په دې ډول د راشدینو خلفاو دوران هم پای ته ورسېد.

**په ټولګي کې فعالیت:**
زده کوونکې دې په دوو ډلو وویشل شي. لومړۍ ډله دې د حضرت علی کرم الله وجهه د شخصیت په اړه خپل معلومات و وایي. او دویمه ډله دې د صفین د جګړې په اړه معلومات له خپلو ټولګیوالو سره شریک کړي.

**پوښتنې:**
- د حضرت علی کرم الله وجهه د کورنی او په خپله د ده د شخصیت په اړه څه معلومات لرئ؟ بیان یې کړئ
- د جمل د جګړې په اړه څه معلومات لرئ؟ وې لیکئ.
- خوارج څوک و؟ خپل معلومات ولیکئ.

**له ټولګي څخه بهر فعالیت:**
زده کوونکي دې هر یو د خپل ملا امام څخه د حضرت علی کرم الله وجهه د شخصیت په اړه معلومات ترلاسه کړي او بیا دې په ټولګي کې خپلو ټولګیوالو ته و وایي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## ایا د امویانو د خلافت د پیل په اړه معلومات لرئ؟



د امیر معاویه له دورې مسکوکات

په پخواني لوست کې راغلي و چې حضرت علی کرم الله وجهه د یوه تن خوارج له خوا په شهادت ورسېد. په دې مهال کې د **شام** اوسېدونکي د حضرت معاویه (رض) په شاوخوا راټول او یو نوی مرکز یې جوړ کړ. حضرت **معاویه** (رض) د **ابو سفیان** (رض) زوی او د **حرب** لمسی و. له هجرته پنځلس کاله د مخه په مکې مکرمې کې زېږېدلی دی. د ده پلار ابوسفیان د مخه تردې چې مسلمان شي د حضرت محمد (ص) د ډېرو کلکو مخالفانو له ډلې شمېرل کېده. د ابوسفیان له مسلمانېدو سره د ده میرمن او اولادونه هم د اسلام په مبین دین مشرف شول.

حضرت معاویه درویشت کلن و چې حضرت محمد (ص) هغه د خپل کاتب په توګه وټاکه. د حضرت ابوبکر صدیق (رض) د خلافت په زمانه کې د حضرت معاویه (رض) ورور یزید بن ابو سفیان د شام سرلښکر و. له هغه سره په شام کې ډېر شمېر بني امیه استوګن شول. د حضرت عمر فاروق (رض) د خلافت په دوران کې د



(c) ketabton.com: The Digital Library

شام اداره معاویه بن ابو سفیان (رض) ته سپارله شوې وه. د حضرت عثمان (رض) په زمانه کې یې هم د والي په توګه خپلې دندې ته دوام ورکړ. د حضرت علی کرم الله وجهه د خلافت په پیل کې حضرت معاویه (رض) بیعت ونه کړ چې په پایله کې د صفین جنګ پېښ شو.

حضرت معاویه (رض) د امویانو د خلافت بنسټ کېښود. شل کاله یې خلافت وکړ او په شپېتم هجري کال کې مړ شو. د معاویه له مړینې څخه وروسته یې لویه امپراتوري په میراث پاتې شوه، چې ختیځې پولې یې له **هند**و**چین** څخه پېلېدې او په لوېدیځ کې تر **فرانسې** او **هسپانیې** پورې رسېدې. له ده څخه وروسته د ده زوی **یزید بن معاویه** (رض) د چارو واګې په لاس کې ونیوې. او د هغه د واکمنی د دوران په یوشپېتم هجري کال کې د کربلا غمیزه پېښه شوه. په دې جنګ کې د حضرت محمد مصطفي (ص) لمسی **حضرت حسین (رض)** او د هغه یاران په شهادت ورسېدل. له یزیده څخه وروسته د دې کورنۍ یوشمېر کسانو د چارو واګې په لاس کې درلودې. دغه کورنۍ تر یو سلو دوه دېرشم هجري کاله پورې د اسلامي خلافت پر سیمو حکومت وچلاوه.

مروان د دې لړۍ وروستنی حکمران و. چې له ۱۲۷ نه تر ۱۳۲ هجري کاله پورې یې د اسلامي امپراتورۍ پر ځمکو حکومت وچلاوه. په پای کې ابومسلم په یوه برخلیک جوړوونکي پاڅون سره د امویانو لړۍ ته د پای ټکی کېښود، چې په راتلونکي لوست کې به یې ولولو.

## په ټولګي کې دننه فعالیت:

زده کوونکي دې په دوو ډلو وویشل شي. لومړۍ ډله دې د حضرت معاویه (رض) د شخصیت په اړوند خبرې وکړي او دویمه ډله دې په دې کورنۍ پورې د تړلو مهمو پېښو په اړه څرګندونې وکړي.

## پوښتنې:

- د امیر معاویه د شخصیت په اړه څه معلومات لرئ؟ ویې لیکئ.
- د کربلا خواشینوونکې غمیزه پېښه څه مهال پېښه شوه؟ خپل معلومات ولیکئ.
- د امویانو پر ضد د پاڅون په اړه څه معلومات لرئ؟ ویې لیکئ.

## له ټولګي څخه بهر فعالیت:

زده کوونکي دې د کربلا د پېښې په اړه د خپلو جوماتونو له امامانو څخه پوښتنه وکړي او بیا دې همدغه معلومات په ټولګي کې دننه له خپلو ټولګیوالو سره شریک کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## ایا پوهېږئ چې داموېانو خلافت څرنګه راوپرځېد؟



اموی جومات په دمشق کې

یوشمیر اموي خلفاو و الهي احکامو ته پاملرنه درلوده چې له دې ډلې څخه کولای شو حضرت عمر بن عبدالعزیز (رض) ته اشاره وکړو، خو یوشمېر نور یې رعایاو ته په مادي او معنوي لحاظونو لکه څرنګه چې ښایي هغسې پاملرنه ونه کړه.

د امویانو پر ضد پاڅونونه په بیلابیلو کچو د واکمنۍ په لړۍ او نږدې ځایونو کې پیل شول. د امویانو پر ضد دغه خوځښتونه او پاڅونونه هغه مهال خپلې لوړې پوړۍ ته ورسېدل چې **ابومسلم خراساني** د عباسیانو په مرسته د پاڅون زمینه برابره کړه. ابومسلم له هرڅه مخکې د عباسیانو پاملرنه ځان ته راواړوله. او بیا یې د اسلامي خلافت پر ضد په ختیځ په تېره بیا په **خراسان** کې پاڅون پیل کړ او تر بغداد پورې یې د امویانو ټولو پلویانو ته ماتې ورکړه. د امویانو یوشمېر پلویان د څه ټینګار پرته پاڅون کوونکو ته تسلیم شول.



(c) ketabton.com: The Digital Library

د **هرات**، **فوشنګ**، **بلخ**، **تالقانو** او نورو سیمو خلک د ابومسلم په امر تر دمشق پورې د پرله پسې برید په حال کې ورسېدل. هلته يې د لوړو دېوالونو او پياوړو برجونو پر سر تور رنګي بيرغونه ورپول، په دې حالت کې عباسيانو د ابومسلم ملاتړ درلود په دې توګه **ابوالعباس** په (۱۳۲ هـ) يو سلو دوه ديرشم هجري کال د خلافت چارې په خپل لاس کې ونيولې.

کله چې خلافت ابوالعباس سفاح ته ورسېد، خپل تره **عبدالله بن علي** ته يې دنده وسپارله چې د اموي کورنۍ وروستني خليفه مروان تعقيب کړي. عبدالله هغه تر موصل پورې وڅاره او هلته هم چې کوم جنګ پيښ شو، **مروان** ماته وخوړه او **حران** ته وتښتېد. بيا يې **دمشق** او **فلسطين** ته تيښته وکړه. ابوالعباس خپل تره ته لارښوونه وکړه چې د مروان د تعقيب چارې **صالح** ته وسپاري. صالح، مروان د **مصر** د **بومير** نومي کلي پورې وڅاره. هلته يې ونيو او ويې واژه. په دې توګه عباسي دوره پيل شوه چې په راتلونکو لوستونو کې به يې ولولو.

## په ټولګي کې دننه فعاليت:

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د امويانو د نيمګړتياوو په اړه خبرې وکړي او دويمه ډله دې د خراساني ابومسلم د پاڅون په اړه لازم معلومات په ټولګي کې ووايي.

## پوښتنې:

- خراساني ابومسلم څوک و؟ خپل معلومات وليکئ.
- د امويانو په ضد پاڅونونه له کومه ځايه پيل شول؟ په دې اړه خپل معلومات وليکئ.
- اموي وروستنی حاکم څوک و او څنګه ووژل شو؟


## له ټولګي څخه بهر فعاليت:

زده کوونکي دې د خپلو مشرانو نه د ابومسلم په اړه پوښتنه وکړي او خپل معلومات دې په ټولګي کې له نورو سره شريک کاندي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## آیا پوهیږئ چې له امویانو نه عباسیانو ته څوک څرنګه ولیږدید؟



د سامرا تاریخي ودانۍ په عراق کې، د عباسیانو د دورې یوه نامتو ابده

**ابومسلم خراساني** برسېره پر دې چې د یوشمېر عجمو له مرستې او ملاتړ څخه برخمن و، یو مُدبر او باخبره سړی هم و. د **تالقانو**، **بلخ** او **هرات** خلک یې په مرو کې سره راټول کړل. ددې ترڅنګ یې هڅه وکړه چې د عربو په تېره د عباسیانو مرسته هم ترلاسه کړي. له همدې امله یې د عباسیانو له مشرانو سره چې هغوی هم د امویانو پر ضد په تبلیغاتو بوخت وو، اړیکې ټینګې کړې. عباسیانو چې په پټه د خلکو بلنه تنظیموله، هڅه یې کوله چې نظامي ځواک هم ولري، چې د امویانو واک پای ته ورسوي. هماغه وو چې د عباسیانو پاملرنه **ابومسلم** ته واوښته، د عباسیانو سره د اړیکو او ژمنو له امله د ابومسلم لښکرو په **دمشق** برید وکړ د امویانو د وروستني خلیفه **مروان** ځواکونه یې د واک له ګدۍ راوپرځول، او د چارو واګې یې **د آل عباس** کورنۍ ته وسپارلې.

عباسي دولت پنځه پېړۍ په اسلامي څمکو حکومت وکړ. ددې کورنۍ لومړنی خلیفه ابوالعباس (سفاح) و. چې په ۱۳۲ هجري کال کې یې د چارو واګې په لاس کې ونیولې. نوموړي تر ۱۳۶ هجري کاله پورې پر اسلامي امپراتورۍ واکمني وکړه. **د ابوالعباس سفاح** پلار د امویانو په مخالفتکې ډېر ربړونه وګالل. هغه د خپلې مړینې پر مهال د امویانو پر ضد فعالیتونه او په بلنې پورې مربوطې چارې خپل زوی **ابراهیم**



(c) ketabton.com: The Digital Library

ته چې په **امام** ملقب و، وسپارلې. امام وروسته د مروان په لاس مسموم شو او په محبس کې یې له نرۍ سترګې پټې کړې.

ابوالعباس د جُمعې په ورځ پر منبر باندې خپله لومړنۍ وینا خلکو ته واوروله، په دې توګه له ده څخه خلک خوښ شول او ده ته یې وویل چې د حضرت رسول اکرم (ص) مبارک سنت دې بیا ژوندی کړ. ده د دې وینا په ترځ کې د حضرت نبي کریم (ص) له فضایلو څخه خبرې وکړې او د امویانو له ظلمونو او بدیو څخه یې یادونه وکړه، چې له ډېرو وګړو، په تېره تېره د نبوت له درنې او پتمنې کورنۍ، سره یې کړې وې. دا یې هم زیاته کړه چې امویانو په زور، دوکې او چل ول اسلامي خلافت غصب کړی و.

د عباسیانو واکمنې تر ۶۵۶ هجري کاله پورې وغځېده. د پنځو پیړیو په اوږدو کې ددې کورنۍ څو تنه واکمنان د واک پر ګدۍ کېناستل. په دې دورې کې ډېرې پېښې رامنځ ته شوې یوه یې د ابومسلم وژنه وه چې د **منصور** د حکومت په دورې کې ترسره شوه.

وروسته له منصور څخه کابو ۳۶ تنه یو په بل پسې خلافت ته ورسېدل، چې د یوشمېر مشهورو کسانو نومونه یې په جدول کې لوستلای شئ:

ددې کورنۍ وروستنی خلیفه **ابو احمد المستعصم بالله** و چې د چنګیزیانو د یرغلونو له امله د واک له ګدۍ راوپرځېد.

د عباسي خلیفه ګانو نومونه او د هغوی د واکمنۍ مهال

## په ټولګي کې فعالیت:

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د ابومسلم په اړه معلومات ورکړي او دویمه ډله دې د ابومسلم د وژل کېدو په اړه خپل معلومات له نورو سره شریک کاندي.

## پوښتنې:

- د خراساني ابومسلم دکارونو په اړه څه معلومات لرئ؟ ویې لیکئ.
- ابوالعباس (سفاح) څوک و؟ خپل معلومات ولیکئ.
- خراساني ابومسلم څرنګه ووژل شو؟ ویې لیکئ.

## له ټولګي څخه بهر فعالیت:

زده کوونکي دې د خپلې سیمې له پوهانو او مشرانو څخه د امویانو نه عباسیانو ته د واک د لېږد په اړه معلومات ترلاسه کړي او بیا دې همدغه مطالب په ټولګي کې دننه خپلو ټولګیوالو ته ووايي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د عباسیانو خلافت څرنګه راوپرځید؟



د عباسیانو د دورې یوه سکه

له هغه وروسته چې **ابومسلم** ووژل شو یو ډېر شمېر سیمه ییز ځواکونه په تېره د اسلامي امپراتورۍ د ختیځو برخو واکمنان پر **عباسیانو** بې باوره شول. په **هرات**، **سیستان**، **بلخ** او نورو ځایونو کې یو شمېر محلي حاکمانو مخالفت ته مخه کړه. دغه مخالفتونه هغه مهال خپلې لوړې پوړۍ ته ورسېدل چې د **هارون الرشید** د زامنو **مامون** او **امین** ترمنځ د مخالفتونو له امله لویه ستونزه جوړه شوه. د هرات خلک او **فوشنجي طاهر** د مامون په پلوۍ راپاځېدل. هغوی غوښتل له یوې خوا د ابومسلم کسات واخلي او له بله پلوه د بغداد په اداري او اسلامي خلافت کې د غیر عربو ونډه او ارزښت زیات کړي.

د عباسي خلفاوو په وروستنیو مهالونو کې داسې کسان واک ته ورسېدل چې پرته له مزو چړچو یې نور کار نه درلود. د دې کورنۍ د راپرځیدو په اړه کولای شو یو لړ زیات لاملونه په ګوته کړو،



(c) ketabton.com: The Digital Library

**د بیلګې په توګه:**

- **په خلکو باندې ظلم او د وعدو نه پر ځای کول:** عباسیانو له خپلې کورنۍ نه پرته له خپلو نورو پلویانو سره وفا نه کوله چې یوه نمونه یې له ابومسلم سره ناروا چلند و.

- **د عباسیانو پر ضد یوشمېر پاڅونونه:** د عباسي خلافت په بېلابېلو برخو کې د خپلواکۍ لپاره د سیمه ییزو واکمنانو پاڅونونو، د عباسیانو دولت کاواکه کړ.

- **د عباسي خلیفه ګانو بې کفایتي:** د عباسي کورنۍ په وروستیو کلو کې داسې کسان واک ته ورسیدل چې د خلکو له ځورونې، مزو چړچو او اخلاقي فسادونو څخه یې پرته نور څه کار نه و.

- **د پیاوړي مرکزیت نشتوالی:** عباسي خلیفه ګانو د خلافت د دوام لپاره نه څه پوهه او نه جرئت درلود. هر سیمه ییز امیر کولای شول چې خلیفه وویروي او په خپله ګټه یې وکاروي.

په دې توګه د اسلامي امپراتورۍ د وېش او توټه کېدو غوښتنې زیاتې شوې، خو هغه څه چې په پریکنده توګه د عباسیانو د دولت د راپرځېدلو لامل وګرځېد هغه د نیز او سیلاب په توګه د هلاکو تر اداري لاندې بغداد ته د مغولي لښکرو رسېدل و، چې په پایله کې یې عباسي خلافت ته تر پنځو پیړیو واکمنۍ وروسته د پای ټکی کېښود.

## په ټولګي کې فعالیت:

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د عباسیانو د وروستیو کلونو په اړه معلومات ورکړي او دویمه ډله دې د عباسیانو د راپرځېدلو د لاملونو په اړه خبرې وکړي.

## پوښتنې:

- په عباسي دولت کې لومړني مخالفتونه څنګه پیل شول؟
- پر عباسیانو وروستۍ ګذار د کومو ځواکونو له لوري وشو؟ بیان یې کړئ.
- د عباسیانو په راپرځېدو کې کوم لاملونه مهم او ټاکونکي و؟ لړلیک یې ولیکئ.

## له ټولګي څخه بهر فعالیت:

زده کوونکي دې د فوشنجي طاهر په اړه له خپلو مشرانو پوښتنه وکړي او خپل معلومات دې په ټولګي کې و وایي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د اووم ټولګي د تاریخ د مضمون اصطلاحات (ګړنې)

**الف**:

**اورتون**:د زردشتیانو عبادت ځای او هغه ځای چې د عبادت لپاره اور پکې بلېږي.

**ارشیف**: د پخوانیو لیکنو ساتنځای.

**ائین**: مذهب، دین: او کله هم د قانون په توګه راغلی دی.

**اساطیر**: داستانونه، کیسې: هغه تاریخ چې پر شفاهي روایاتو او داستانونو ډېره لګوي، همدغسې مطالبو ته اساطیري تاریخ ویل کېږي.

**سکندریه**: یوناني تم ځای، نظامي عسکري ځای، هغه سیمه چې د یونانیانو او په ځانګړې توګه د سکندر له خوا جوړه شوې ده.

**ابداعات**: نوي جوړ شوي. نوي بدلونونه. هغه څه چې په پخوا کې معمول نه وي او په نوې بڼه وړاندې شي.

**العیاذ باالله**: پناه وړو د لوی څښتن حضور ته.

**انصار**: په لغت کې د مرسته کوونکو په معنا ده او په اصطلاح کې د مدینې هغو وګړو ته ویل کېږي چې د مکې له کډوالو سره یې مرسته وکړه او له هغوی یې تود هرکلی وکړ.

**ارتداد**: له دین نه اوښتنه. هغه کسان چې د اسلام له مبین دین څخه واوښتل مرتد وګڼل شول. یا په بلې وینا هغه کسان چې د اسلام له مبین دین څخه اوښتي وو، مرتد ګڼل کېدل.

**ب**:

**لرغونپوهنه**: لرغونپوهنه: هغه پوهنه ده چې له تاریخه دمخه دوران تر څېړنې لاندې نیسي او مطالعه کوي.

**بدر**: مدینې ته نږدې یو غر دی.

**بعثت**: په رسالت مامور کېدل یا ژوندي کېدل.

**برونز**: برنجي وسایل: (د مس او قلعي ترکیب او ګډون دی.

**بودا**: ګوتاما یا د بودایي دین لارښود.

**بودیستوا**: د بودا منونکي، هغه کسان چې د بودا کېدلو په مرحلې کې دي.

**ت**:

**کلیزه**: (جنتري): د ورځو، میاشتو او کلونو دقیقه شمېرنه.

**ج**:

**جیحون**: د امو سیند

**جمل**: اوښ، د جمل جګړه، هغه جګړه چې په هغې کې بي بي عایشه (رض) پر اوښ سپره وه.



(c) ketabton.com: The Digital Library

ح:

**حجه الوداع**: د حضرت نبي كريم (ص) وروستنی حج.

**حماسي**: هېوادني، جنگي، غورځنگي.

خ:

**خرافات**: هغه کره وره چې له شریعت، عقل او منطق څخه لرې وي.

**خوارج**: وتلي، هغه ډله چې د صفين په جنګ کې يې د هغه حکميت مخالف کاوه چې د حضرت علي کرم الله وجهه او معاويه له لورې منل شوي و و.

م:

**ماقبل تاريخ**: له تاريخ څخه د مخه.

**منبع**: ماخذ. سرچينه او هغه اثار چې په کتاب ليکنې کې د ليکوال له خوا تر استفادې او گټې لاندې نيول کېږي.

**موزيم**: د لرغونو او تاريخي اثارو ساتنځای.

د:

**درج**: ثبت او ليکنه.

ر:

**رب النوع**: د انسان له لوري جوړه شوې الهه، بُت پالنه.

س:

**سامانه**: جوړول، تنظيمول، په لرغوني زمانې کې د اريايي وگړو عمومي جشن لکه د نوروز جشن او د بزگر جشن.

**سيحون**: د رود تگ لوري او په تاجکستان کې د سير دريا نوم دی.

**سبک**: شيوه، لاره، طريقه، تگ لاره.

ش:

**شرک**: له لوی څښتن سره شريک راوړل. بت پرستي. او په يوه خدای باندې باور نه لرل.

ص:

**لاکي صندق**: دغه صندق چې له لرگي څخه جوړ شوي او د لاک په مټ چې يوه کيمياوي ماده ده، پوښل شوي وي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

**صفین**: په شام کې د یوه ځای نوم، چې په عین حال کې د حضرت علي کرم الله وجهه او د امیر معاویه ترمنځ جګړه هم همدلته پیښه شوې ده.

ع:

**هندي عاج**: د هندي پیلانو هغه غاښونه چې ظریفه اثار ورڅخه جوړېږي.

**عام الفیل**: د فیل کال په اعرابو کې یو کال د فیل په نامه مشهور و له هجرته **۵۳** کاله مخکې کال.

غ:

**د حرا غار**: د مکې مکرمې په یوې سیمې کې یوه سمڅه وه چې هلته به حضرت رسول اکرم (ص) د لوی څښتن په ذکر او عبادت لګیا و.

**غزا**: په لغت کې د جنګ په معنا ده او په اصطلاح کې هغه جنګ ته ویل کېږي چې له مسلمانانو نه د دفاع او د اسلام د خپربدا او پراختیا لپاره یې صورت موندلي وي.

**غزوه**: هغې جګړې ته وایي چې د حضرت محمد (ص) په ګډون پېښه شوې وي.

ف:

**فرعون**: د Paare له توري او کلمې څخه اخیستل شوي او د مصری پاچاهانو لقب و. چې په پخواني مصر کې دغه توري استعمالیده.

ق:

**قلمرو**: جغرافیایي محدوده. د واک لاندې سیمه. د دولتي واکمنۍ حدود او سیاسي واکمني.

ک:

**ډېرلیک**: په ډېره لیکل شوی مطلب. هغه لیکنه چې په ډېرې کې حک او کیندل شوې وي او په عامه معنا لیکنه.

ګ:

**ګاتها**: د زردشت نصیحتونه یا د سپین تمان پندونه (نصحیتونه)



(c) ketabton.com: The Digital Library

م:

**مسکوکات**: د سکو ټولګه. فلزي سیکې.

**مزج**: یوځای کېدل. ګډکېدل. یو له بل سره یو کېدل.

د مزج توری او کلمه په تاریخ کې هغو مدنیتونو ته استعمال شوېده چې سرچینه یې بیله او لاس ته راوړنې یې یو ډول وي او په عامه معنا یوځای کېدنې ته هم ویل کېږي.

**مشرکین**: هغه وګړي او کسان چې له لوی څښتن سره شریک راوړي.

و:

**وحدانیت**: په یوه او واحد څښتن تعالی باندې ایمان او باور لرل.

**ویدي**: د اریایانو د سرودونو څلور کتابونه دي چې له ریګویدا، اتهر ویدا، ساما ویدا او ویجورو ویدا څخه جوړ دي. د ویدا او ویدي توری او کلمه د پوهې او تیز هوشۍ په معنا هم کارول شوېده.



(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**